ابتکار ښوونیز مرکز د نؤیو نوښتونوسره.

۷۸۶

بسم الله الرحمن الرحیم

د افغانستـان اسـلامي جمهوري دولت

د معارف وزارت

د خوست ولایت د پوهنې ریاست

د اسمعیل خیلو اؤ مندوزیو ولسوالۍ د پوهنې امریت

د ابتکار ښوونیز مرکز اداره

# پښتو لیکدود

ترتیبؤونکی: کریم الله (افغان)

د زده کؤونکی نوم:

کال ......................................................................... ۱۴۰۰ هـ . ش

## سریزه

ژبه د الله تعالی لوی نعمت دی ، چې دا لوی نعمت حدای تعالی یؤازې انسان ته ور لؤرولی دی اؤ په دې توګه د ژبې په وسیله د انسان لهٔ نورو خیواناتو سره توپیر کېږي، ژبه د انسانانو تر منځ د پوهولو اؤ را پوهولو ارزښتناکه وسیله ګڼل کېږي، چې بې لهٔ ژبې د انسانانو تر منځ اړیکه ستونزمنه ده، ، په تېره بیا د ژبې لیکنۍ ( د لیک اؤ لوست ) برخه چې خواره اړینه ګڼل کېږي.

نو د لیکدود تر نامهٔ لاندې لیکل شؤی کتاب هم د ژبې لیکنۍ بڼې ته ځانګړی شؤی دی، چې د ژبې لیکنۍ بڼه موږ غښتلې او د لیکدود د برخې ستونزې مو حل شؤې وي.

تاسو چې د پښتو ژبې لیکدود زده نهٔ کړئ، کله به هم د خپلې مورنۍ ژبې ارزښت او اهمیت و نهٔ پېژنئ!

## لــړلــیــک


| مخ | عنوان |
|---|---|
| ۱ | املاء یا لیکدود |
| ۳ | لیک نښې |
| ۱۰ | لیکدودیز توپیرونه |
| ۲۲ | زؤرکی |
| ۲۶ | واوونه |
| ۳۰ | کره وییونه |
| ۳۲ | علمي رتبې |
| ۳۳ | د میاشتو او اوونۍ نومونه |
| ۳۵ | د نومونو جمع کېدنه |

# املاء یا لیکدود

املاء د عربي ژبې کلمه ده ، پښتو ژبه کې ورته لیکدود وايي، لیکدود یوه مرکبه کلمه ده چې د دوو کلمو څخه راغبډلې ده، چې اوله برخه يې(لیک) اؤ دوهمه برخه يې (دود) چې د لیکلو عام کېدو په مانا ده.

لیکدود: په لغت کې مهلت ورکوُلو اؤ ډکوُلو ته وايي او په اصطلاح کې خپلې یا د بل خبرې په سم ډوُل لیکلو ته لیکدود وايي.

## د پښتو ژبې لیکدود د پنځو برخو څخه جوړ شوُی دی:

**• پنځهٔ یاګاني • لیک نښې • لیکدودیز توپیرونه • زوُرکی • سفېس یا فاصله**

**• پنځه یاګاني** **• نرمه یا (ی)**

نرمه  یا هغه یا ده چې د نارینه مفردو نوموُنو،صفتونو، فعلونو او نسبتي نوموُنو په پای کې کاروُل کېږي.

**مثالونه: ـ د نوموُنو لهٔ برخې:** سړی، زمری، ټولګی ، ښوونځی، پسرلی، لرګی، ښوونکی، زده کوُونکی...

**• د صفتونو لهٔ برخې:** ښکلی، کوچنی، لوی، توریالی، ننګیالی، لنډی.. **• د فعلونو لهٔ برخې:** دی، راغلی، خوړلی، تښتېدلی، ډبیدلی، تللی، ورغلی... **• د نسبتي نوموُنو لهٔ برخې:** تڼی، مندوزی، غلجی، خوستی، کندهاری، لغمانی ، امریکایی ، پاکستانی ... نرمه یا ځینې وختونه د تلفظ یا وینګ لهٔ مخې په په جمله یا غونډله کې په ځرګنده یا هم بدلېږي. **• لکه: په لاندې غونډلو یا جملو کې:**

۱: زهٔ د اوونی په جریان کې ښوونځي ته ځم . ۲:زموږ په ټولګي کې شاوخوا لس زده کوُونکي ناست دي.

۳: هغه مخامخ سړي ډېر ښهٔ کار تر سره کړ. ۴:علي زما یوُ ډېر ښهٔ ملګری دی.

په پورته غونډلو یا جملو کې (ښوونځی، ټولګی، سړی او علی ) نارینه مفرد نوموُنه دی، خو د تلفظ یا وینګ لهٔ مخې يې بدلون کړی دی اؤ نارمه یا په ځرګنده  یا تغیر شوُي ده.

یادوُنه:نرمه یا همېشه لپاره د نوموُنو،صفتونو ، فعلونو اؤ نسباتي نوموُنو په پای کې کاروُل کېږي.

**• ځرګنده یا (ي)**

ځرګنده یا هغه یا ده، چې د نارینه جمع نوموُنو،صفتونو،فعلونو اؤ په نسبتي نوموُنو کې استعمالیږي. **مثالونه:**

**ـ د نوموُنو لهٔ برخې:** سړي، منګي، لرګي، پسرلي، ټولګي، ښوونکي، ښوونځي، زمري، زده کوُونکي...

**ـ د صفتونو لهٔ برخې:**ښکلي، کوچني، لنډي، ننګیالي، توریالي...

- **د فعلونو لهٔ برخې:** راغلي. خوړلي، دي، ځي، راځي، نهٔ راځي، خوري، ولاړيږي،غورځيدلي...
- **د نسبتي نومونو لهٔ برخې:** ټني، دلپوري، افغاني، امريکايي، کندهاري، حسن زي، مندوزي...
- **يادؤنه: ځرګنده يا د کلمو په سر ، مېنځ کې هم استعماليږي.**
- **د کلمو په سر کې:** ياسر، ياسين، ياران، يګانه، يخيي ، يون، يار ، ياسمين، يارمل، ياقوت،يما، يؤازې...
- **د کلمو په مېنځ کې:** نړيوال، ټولګيوال، انډيوال، ميوندوال، ياسين، نړيوال، نريزوال، سندريز، نسترين ...
- **اوږده (ې)**

**اوږده يا:** هغه يا ده چې په ښځينه جمع او مفردو نومونو صفتونو او فعلونو کې استعماليږي. **مثالونه:**

- **د مفردو نومونو لهٔ برخې:**يادؤنه: په اوږده يا کې يؤاځينی مثال چې پيدا کيږي هغه د (ادې) مثال دی.
- **د جمع نومونو لهٔ برخې :** پاڼې، ونې، ښځې، شيدې،تودې، ګرمې، لنډې، اوږدې، سرې، تورې، سپينې...
- **د فعلونو لهٔ برخې: راځي، نهٔ راځي، دې، لاندې، باندې...** • **د صفتونو لهٔ برخې:**ښکلې، اوږدې، لنډې، شنې، تورې، سپينې، سرې، تودې، لنډې، سرې، زرغونې..

**يادؤنه:** اوږده يا همېشه لپاره د کلمو په مېنځ او پای کې استعماليږي. • **د کلمو په مېنځ کې:** ډېر، هېر، لېرې، دېوال، چېرته ، تېز، تېر، دېره، شېر، مېنه، همېشه، نېزه، تېره...

- **لکۍ لرونکې (ۍ)**

هغه يا دا چې په ښځينه جمع اؤ مفردو نومونو، نسبتي نومونو کې استعماليږي، خو د جمع او مفردو توپير يې په غونډله يا جمله کې کيږي . **مثالونه**

- **د نومونو لهٔ برخې:** خولۍ، څپلۍ، هيلۍ، ډوډۍ ، شرۍ، لښتۍ، چترۍ، ملالۍ، ګلالۍ، تورپيکۍ، جلکۍ ...
- **د نسبتي نومونو لهٔ برخې:** ننګرهارۍ، خوستۍ، کندهارۍ، جاپانۍ، اميکايۍ، لغمانۍ، پاکستانۍ، هندوستانۍ...**يادؤنه:**لکۍ لرونکې يا د همېشه لپاره د کلېمو په پای کې کارؤل کيږي.
- **همزه لرونکی ۱ فعلي يا (ئ)**
- **همزه لرونکي يا :**هغه يا ده چې (٪۷۵) د امرکؤلو په وخت کې استعماليږي اؤ (٪۲۵) په داسې مواردو کې استعماليږي چې هلته امر نهٔ وي تر سره شؤی. همزه لرونکي يا د همېشه لپاره په فعلونو کې کارؤل کيږي.

## مثالونه

• **د امرکؤلو په وخت کې:** راشئ، اوخورئ، مه راځئ، جګ شئ، لاړ شئ، ولیکئ، و څښئ، کېنئ، مه کېنئ...

• **په داسې مواردو کې چې هلته امر نهٔ وي موجود:** پخیر راغلئ، خوښ واوسئ، هر کله راشئ،ژوندي واوسئ... **یادؤنه:** همزه لرونکي یا د همېشه لپاره د فعلونو په پای کې کارؤل کېږي، دې یا ته د امریه یا نوم ورکؤل غلط کار دی؛دا یا په داسې فعلونو کې هم کارؤل کېږي چې هلته د امر نوم هم نهٔ وي. لکه:په خیر راغلئ ، ستړي مه شئ.

### د پښتو ژبې د یا ګانو دوهمه اؤ تر ټولو اسانه زده کړه، په لاندې ډؤل وګورئ!

• **نرمه يې ی\ پې ټکو ی\ نارینه ی\:** درې نومونه لري، که هر یؤ نوم مو ورته واخېست فرق نهٔ کؤي، نرمه یا ځکه ورته وایي چې په ویېونو یا لغاتونو کې نرمه تلفظ کېږي، پې ټکو یا ځکه ورته وایي چې ټکي نهٔ لري، نارینه یا ځکه ورته وايي چې د نارینه نومونو لپاره استعمالیږي.

• **نرمه یا:** هغه یا ده چې د مخ توری یې د زؤر اوز ولري، لکه: سړی، منګی، پسرلّی ، سرلَی، ښوونکّی، زده کؤونکَی، مندوزَی، حسن زَی، لرګی، تَی، دلپورَی...

• **څرګنده یا (ي):** هغه یا ته وایي چې د مخ توری یې لنډ زېر ولري. لکه: سړِي، منګِي، پسرلِي، مندوزِي، دلپورِي، تِي، ښوونکِي، زده کؤونکِي...

• **اوږده یا:** اوږده یا هغه یا ده چې د مخ توری یې اوږد زېر ولرې اؤ هغه نومونه چې په زؤر(ه) ختم شؤي وي په اوږده یا جمع کېږي. د بېلګې په ډؤل: ونه \ ونې ، ښځه\ ښځې، منه\ منې، چرګه\ چرګې...

• **لکۍ لرونکې ی:** هغه یا ده چې د مخ تور یې اوږد زېر ولري. بېلګې: ځاځِۍ، خوسِتۍ، ځپلِۍ، منځینِۍ...

• **همزه لرونکې یا:** هغه یا ده چې د مخ توری یې د زؤر اوز ولري اؤ تر ډېره د امر کؤلو په وخت کې کارؤل کېږي. بېلګې: اوخورَئ، ځَئ، راشَئ، واخلَئ، ژاړَئ، کېنَئ ، مه راځَئ...

### هغه کربنې چې ټولې پنځهٔ یېګانې پکې کارؤل شوي وي:

۱: د زدکړو هرکلی وکړئ، ټولې نېکمرغۍ په زدکړو پورې تړلې دي.

۲: تاسو اوګورئ ، تالا ولا چې پروت دی ، دا زما د زړګي بن ړلی وهلی.

۳: راځئ چې سره یؤ شو، په نړۍ کې دا مو شعار دی؛په یوالي کې زموږ ټولې نیکمرغۍ نغښتې دي.

۴: دوی چې راځي،ډوډی وخندېوئ.

لیکوال: کریم الله ( افغان )
اړیکې شماره : 0772213809

## • ليک نښې

د يوې ښې ليکنې او همدا ډول د مطلب څرګندولو لپاره ځينې نښې هم شته که موږ هره نښه په خپل ځای وکاروو،نو يو ځوک کولای شي چې خپل مکسد او هدف په اسانۍ واخلي، نو که ليک نښې په يوه ليکنه کې مراعات نهٔ شي لوستونکی د ستونزو سره مخ کيږي ، ليک نښې په ليکنه کې داسې رول لوبوي لکه ترافيکي نښانونه اؤ ليکدارې په سرکونو باندې.

### (.) ټکی full stop

•. ټکی دهغو غونډلو (جملو) په پای کې راځي ، چې بشپړې شي،د جملې پای اکثره وخت پېژندل کېږي، چې په پښتو کې تل کړ(فعل) د جملې په پای کې راځي. **بېلګې:** ما ډوډۍ خوړلې ده. علم په نر او ښځه فرض دی. (خوړلې ده، کړي ده، دی، تر ډېره د جملو په پای کې راځي).

• ټکی کله کله د نېټې په ليکنه کې هم کارول کېږي. لکه: 2022.11.10

. همدارنګه ټکی په مخففو تورو پسې هم ليکل کېږي.لکه: م.م (ملګري ملتوونه) يا هـ.ش (هجري شمسي).

• ټکی د نامخامخ پوښتنې په پای کې کارول کېږي.لکه:هغهٔ لهٔ ما څخه وپوښتل چې څهٔ وخت به وزګار شم.

### (،) څنډ نښه ، کامه ، چپه پېښ

. دا نښه موږ ته راښيي چې، يوه جمله لهٔ بلې جملې سره اړيکې لري او په لوستلو کې يې بايد ډېر لږ څنډ وشي. د کارونې ځايونه يې په لاندې ډول دي. د جملې دوې يا څو فقرې(برخې)سره بېلوي، لکه:رحمان بابا لوی شاعر، ستر اديب او پوخ متفکر و. زه کابل ته تلم، لاره خربه وه.

.•دا نښه په يوه جمله کې د لږ څنډ لپاره کارول کېږي . لکه:احمد ډېر ښهٔ انسان دی،رب دې يې ښهٔ لري.

.•د کلمو د پرله پسې د عطف توري پر ځای کارول کېږي. بېلګې:افغانستان بېلابېلې مېوې لري.لکه:انګور، انار،منه ،ناک او داسې نور ... ما مې خپل ورور،خور،مور،پلار او دوستان وليدل.

• په يوه جمله کې د کوچنيو جملو د بېلولو لپاره هم کارول کېږي.لکه: استاد ټولګي ته راننوت،سلام يې را وکړ،حاضري يې واخيسته او درس يې پيل کړ.

• د لنډو جملو په مېنځ کې کارول کېږي، لکه: کور ته چې ورسېږې، زنګ را واوهه. زه ښوونځي ته لاړ وم ، سره لهٔ دې چې ناروغ وم. تهٔ راباندې ګران يې، ځکه دې پوښتنه کؤم. پاځون زما ښهٔ ملګری دی، خو کله ناکله راسره جنګ کؤي.

## (؛)سيمي کولن،ټکی چپه پېښ یا ځنډنۍ

•دا نښه د ډېرې وقفې لپاره کارېږي، د اوږدو جملو د بېلوالي لپاره راځي او د جملو تر منځ د زياتي وقفې په وخت کې له دې ليک نښې کار اخيستل کېږي. تر کامې پې ساحه لويه او تر ټکي واړه ده. **لکه:**محصلين چې ازاده مطلعه و نهٔ کړي؛کله چې استاذان شي د محصلينو لپاره نوُي او تازه مالومات نهٔ راوړي؛دا چاره د تحصيلي سوېې د ټيټوالي لامل کېږي. **• کله** کله د ماخذونو په کارونه کې هم کارول کيږي. **لکه:**روهي، صديق؛د پښتو ادب تاريخ؛پېښور:دانش خپرندويه ټولنه. **• کله** چې د ځينو الفاظو ترمنځ ويرګل وي،د ورستي لفظ نه وروسته د اوږدې وقفې لپاره کارول کيږي، لکه:کابل،وردګ،لوګر؛په مرکزي زون پورې اړه لري. **•همدا شان** د دوو داسې جملو ترمنځ هم راځي، چې وروستۍ جمله تشريح او واضح شکل وي. لکه: مورِ د خپلو ښوونکو درناوی کؤو ؛ ځکه هغوی مورِ ته پوه را زده کوي. د علم زده کړه اړينه ده ؛ تر څو الله تعالی ښهٔ او په سمه مانا وپېژنو.

## (؟) سواليه،پوښتنيزه نښه

پوښتنيزه نښه يا پوښتننښه د مخامخ پوښتنې لپاره کارول کيږي. لکه:ولې ښوونځي ته نهٔ راځې؟ **• کله** کله د نا مالوم شي پر ځای کارول کېږي. لکه:حميد مومند (؟) زوی... **• د شک** په وخت کې هم کارول کېږي. لکه: د عبدالرحمان بابا د زېږيدو خت ۱۱۲۸ هـ ش (؟) ښودل شوی دی.

**• د هغې** جملې په پای کې هم راځي ، چې لهٔ مقابل لوري څخه د ځان پوهؤلو لپاره مالومات غوښتل کېږي. لکه: د کوم پاچا په وخت کې افغانانو خپله خپلواکي تر لاسه کړه؟ افغانانو ولې لهٔ انګريزانو سره درې ځلې جګړې وکړې؟ **• کله** چې په يؤه جمله کې د ننه پوښتنه راغلې وي . لکه: اتهٔ ويشت کاله پخوا دې ياد دي؟ چې روسان لهٔ افغانستان څخه ووتل. ياد دې دي؟ چې انګريزانو زمورِ په هېواد کې څنګه ماتي اوخوړه؟ **د پوښتنې** نښه دوې او درې (؟)، (؟؟)، (؟؟؟)هم پر يؤ ځای کارؤل کيږي، چې د پوښتنې شک يا شدت ښيي.

## (:)څرګندنۍ،شارحه

**•دا نښه** د يؤې کلمې يا جملې د سپړنې او بيان نښه ده،ياني د هغې جملې يا کلمې په پای کې راځي چې وروسته ورپسې بيان يا شرحه راغلې وي. لکه:په خوست کې لاندې خصوصي ښوونځي فعاليت کوي: حميدي خصوصي ښوونځي، مشعل خصوصي ښوونځی،خيرالناس خصوصي ښوونځی...

• د مستقيم نقل قول د راوړلو په وخت کې کارؤل کېږي. لکه:حضرت مخمد (صؑ) فرمايلي دي:(د علم زده کړه په نر او ښځه فرض دي) **• د** يؤ شي د اجزو د ښودلو لپاره هم راځي. لکه:ليک نښئ دا دي:ټکی،سيمي کولن،شارحه... **• د يؤ** چا د وينا د راخيستلو په وخت کې د هغه د وينا څخه مخکې دغه نښه کارؤل کېږي. لکه:رسوالله صؑ فرمايلي دي: ((زهٔ تاسې ته و نهٔ وايم چې دوزخي څوک دی؟ واورئ! هر کبرجن ، بدخويه او بخيل دوزخي دی.))

ليکوال: کريم الله ( افغان ) اړيکي شماره : 0772213809

## (!) ندايه،غږ نښه،بلن نښه،مخاطب نښه

•دا نښه د مخامخ مخاطب کوُلو په وخت کې کاروُل کېږي،لکه: ای خلکو! بيدار شئ د ښمن مو کور ته راغلی دی. •**د حيرانی او تعجب په وخت** کې هم کاروُل کېږي. لکه:څهٔ ښکلی کار يې وکړ! اوهو څهٔ ښکلی گل! • **د افسوس** په وخت کې هم کاروُل کېږي. لکه:اخ مړ شوا! افغانستان لوبه وبيلاله! • **د امر او** کلکې غوښتنې پر مهال هم کاروُل کېږي. لکه: دلته راشه! • **د خطاب** لپاره ، لکه: درنو حاضيرنو! ورونو او خويندو ! ښاغلو او اغلو! • **د غږ** په وخت کې، لکه: احمده! گرانه دلته راشه! ای هلکه خبره واوره! واهلکه، ډوډی اوخوره! • **د هيلې** ، خواهش او افرين د څرگندولو لپاره کاروُل کېږي، لکه: کاشکې محمود مې ليدلی وای! افسوس چې مخکې مې فکر کړی وای! شاباس ښهٔ کار دې وکړ! افرين ډېر ښهٔ!

• **د طنز** (تمسخر) او پيغور لپاره دلته دا نښه په ليندېو کې نيول کېږي، همغه د تمسخر لهٔ کلمې وروسته راؤړل کېږي. لکه: نابغه(!) دا دې څهٔ وکړل!؟ دې عقلمند (!) ته گوره. دا خو سم افلاطون (!) دی.

نوټ:ندايه يا غږ نښه هم دوه(!!) او (!!!) درې کاروُل کېږي. • **کله** که چرته ډېر د خپکان،تعجب او خوښۍ وخت و ، مورږ دوه او درې هم کاروُلی شو ،چې د خپکان ،خوښۍ او تعجب شدت ښيي.

## (؟!) سواليه او ندايه

سوليه او ندايه دواړه يوُ ځای هم راتلای شي،چې تعجب او پوښتنه دواړه په يوُ وخت وښيي. **لکه:** د لمر گل آدې هم اوس د کلي ښځې تلاشي کوي!؟ دلته پس جمله کې لومړی تعجب څرگند شوی دی بيا پوښتنه شوې ده،نو ځکه لومړی ندايه کاروُو وروسې سواليه کاروُو. • **تهٔ نهٔ** يې خبر چې د افغان او انگليس په يوُه جگړهٔ کې لهٔ (۱۵۰۰۰)انگريزي پوځ څخه يوُازې ډاکټر بريډان ژوندی خلاص شوا!؟• **دغه** نښې په غزل او بيتونو کې هم کاروُل کېږي.**لکه:** **سوالونه کوې؟وېې کړه خو څوک يې قبلوي؟**

**ژړا کوې ، نو وبدبخته چا ته يې کوې!؟**

**(شهاب)**

**ويلي غواړي به شي،له ستونې به مې تېر نهٔ شي**

**د دم ژوندون مجبوريتونه به مې هېر نهٔ شي**

**چې په سپين رخت مې زنه وتړي بيا څه فايده؟!**

**بيا دې زما ياران زما نه راچاپېر نهٔ شي**

**(اورښت)**

## ۸:(.) ډش يا کرښې

دا نښه ډېر وخت د جملو د پيل وړاندې له عددونو وروسته راځي.   لکه: ۱ـ....  ۲: ـ....  ۳ ـ....

• **د ډرمې** يا دستان په خبرو کې د نومونو د تکرار مخنيوي لپاره استعماليږي.  لکه: زده کوونکی:ښوونکی صېب اجازه ده؟ ښوونکی:هو، راځه ولې ناوخته راغلې؟   **ــ لاري** بندي وې؟ ــ د ډاډولو تر ابتکار ښوونيز مرکز  لارې بندې وې؟ ـ نه ، شپه مې بل ځای وه.  **ــ باور** مې نهٔ شي،خو راځه.   • **په** ځينې مکاني او زماني واټن کې د «له،تر،پورې»د کلمو پرځای راځي او په کلمه کې  په زړهٔ پورې لنډون راولي.  لکه:خوشحال خان خټک (۱۰۲۲ ــ ۱۱۰۰ هـ.ق) لوی شاعر و.    • **د کابل** ــ کندهار لويه لار تر رغوني لاندې ده. دا جمله د ډش د نهٔ کارؤلو په صورت کې داسې ليکل کيږي: لهٔ کابل نه تر کندهاره پورې لويه لار تر رغوني لاندې ده.

## ()وړې ليندی يا قؤسونه

دا نښه د پښتو په متنونو کې تر ډېره د ياني په مانا کارؤل کيږي.  **لکه:**هغه کړونه (فعلونه) چې په ول پای ته ورسيږي ...  د دغه موټر ارزښت (۳۵۰۰۰) افغانۍ دی.   • **د هغه** رقمونو توري چې د وېش د ښودلو لپاره راځي. لکه: د يوې ټولنې د بشپړ تحليل په وخت کې بايد(الف) د خلکو عقيد (ب) د خلکو عنعنات او دودونه او (ج)تاريخي روايات او ملي افتخارات په پام کې ونيول شي.  **•د اسلام** پنځه بناوې دا دي:(کلمه طيبه ، لمونځ ، روژه ، زکات او حج.)

• **دا نښه** د اضافي کلمو لپاره کارؤل کيږي ،چې په عبارت او کلام کې مکسد نهٔ وي. **لکه:**ميرويس نيکهٔ (روح دې ښاد وي) يؤ ملي مشر و.   • **احمد شاه بابا** (رب دې يې اوبښي)زموږ د هېواد ملي اتل و.

• په قانوني او تجارتي پاڼو کې د پيسو د مقدار لومړی توپير په تورو او ورپسې د ليندیو ترمنځ په رقمونو ليکل کيږي. لکه: د دې تړون (قرارداد)لهٔ مخې به د کور مياشتنۍ کرايه اووهٔ زره پنځهٔ سوه(۷۵۰۰)افغانۍ وي.

د دې ليک (تړون) په اساس به د دوکان کوم چې احمد له عرفان څخه په پنځهٔ زره (۵۰۰۰) افغانۍ کرايه ونيو؛احمد به عرفان ته هره ورځ ذکر شوي روپۍ ورکوي.

• د يؤ شخص د زيږيدو او مړينې نيټه هم په قوسونو کې ليکل کيږي.  **لکه:**عبدالرؤف بېنوا په (۱۲۹۲هـ ش ۱۹۱۳م) د افغانستان د کندهار په ولايت کې زيږيدلی دی.

بايزيد روښان په(۹۲۶ هـ ق) کال کې زيږيدلی دی او په (۹۸۵ هـ ش) کال وفات شوی دی.

## (\)سلش یا ویرګول

د ویرګول لفظ د لاتني کلمې د ویرګولا څخه اخیستل شوی دی،چې د واړهٔ میل یا سیخ په مانا دی ، دغې نښې ته بېلوونکې،ممیزه او بار هم وايي، په لاندې مواردو کې کارول کېږي.

• معمولا د (او\یا) ترمنځ دا نښه راځي. لکه: ښاغلی\اغلې. هلک\نجلۍ •**د تاریخ** په لیکلو کې هم کارول کېږي. لکه ؛ ۳۴\۶\۱۳۹۹ •**کله** کله د یؤ بیت د مصریو ترمنځ فاصله نهٔ پرېښودل کېږي ؛نو پر ځای یې دا نښه راوړل کېږي. لکه: د خوشحال په دې بیت کې: درست افغان لهٔ کندهاره تر اټکه\سره یؤ د ننګ په کار پټ او ښکار

## (...) درې ټکي یا حذف نښه

درې ټکي معمولا لهٔ یؤې لیکنې نه د لږ شویو مطالبو پر ځای راځي. که د پراګراف په پای کې راشي،نو بیا د جملې د پای ټکی هم پرې ورزیاتېږي. لکه:په افغانستان کې د ادب تاریخ لیکوالان :عبدالحی خبیبي،ګل پاچاه الفت،هېواد مل. ... • **درې ټکي** د متن په پیل کې د دې لپاره هم راوړل کېږي چې دا متن تر دې مخکې هم شته. • **د جملې** په پیل کې هغه وخت راځي چې لیکوال په خپله لیکنه کې د بل چا د خبرو یؤه برخه رانقلوي،نو کومه مخکینۍ برخه چې د دهٔ لهٔ موضوع سره اړخ نهٔ لګوي پرځای یې(...) ږدي، لکه: ((...اسلامي اخلاق هېڅکله دا نهٔ ایجابوي چې څوک خپل خبر د نورو په شر کې ولټوي.)) • **درې ټکي** د اؤ داسې نور په ځای هم کارول کېږي. لکه: زه ډېر ملګري لرم : زبیر، احمد، محمد، طارق ... د تاکید لپاره د وړو جملو د بېلؤلو په حال کې: لکه: دا کار نن وکړه ... ځنډ مه کوه ... سبا به پښېمانه شې! • **د متن** په لیکنه کې د هغې کلمې پر ځای هم درې ټکي راوړل کېږي ، چې د ویلو نهٔ وي او د قلم عفت یې د لیکلو اجازه نهٔ ورکؤي او یا لیکوال نهٔ غواړي چې هغه ولیکي.

## ورځو ته ورته نښه { }

.دغه نښه { } په پښتو ، دری او انګلیسي کې یؤ ډؤل کارول کېږي، په عمومي توګه هغه وخت استعمالیږي ، چې د یؤې کلمې په مقابل کې څو کلمې راشي. لکه: انسان {مسلمان ، کافر ،افغان}. انسان { مسلمان ، افغان ، پښتون }.

## درې ستوري(***)

• درې ستوري د یؤې رسالې یا مقالې د یؤې برخې د پای ته رسیدو او د بلې د پیل کېدو په منځ کې راځي.

دغه نښه معمولا د یؤې ډرامې ، ناول،کیسې یا داستان د یؤې برخې یا صحنې څخه بلې ته د تلو په منځ کې د بېلوالي لپاره کارول کېږي، مخکې درې ستوري د شعر د بندونو د جلا والي لپاره هم کارول کېدل.

اوس هم په ځینو کتابونو کې د شعر د بندونو اؤ د یؤهٔ بیت یا لنډۍ وروسته درې ستوري کارول کېږي.

**لکه:**

**ستاسو دستور دی، مرۀ پر اوږو وړئ**

**ژوندي مو نۀ کړل ، لۀ خاورو پورته**

* * *

**زور د ظلم هغسې په زور دی**

**زیاره ستا ښېرې اسمان ته نۀ رسي**

## یؤ ستوری (*)

- یؤ ستوری اوس مهال ډېره نۀ کارؤل کېږي، پخوا به یؤ ستوری د حذف شؤي عبارت پر ځای کارؤل کېدۀ اؤ د لمن لیک لپاره هم استعمالیدۀ ، اوس مهال د حذف شؤی عبارت پر ځای درې ټکي کارؤل کېږي اؤ د لمن لیک لپاره د جملې په سر کې راقمونه راځي، یؤ ستوری اوس مهال هم ځینې لیکوالان د توجو د جلب لپاره کارؤي، خو عمومیت نۀ لري. **تر جملې لاندې کرښه ( ــــــ )**

- دا نښه هغه وخت کارؤل کېږي، کله چې یؤ نوم یا جمله په ځانګړې ډؤل د پاملرنې وړ وي، په هغه وخت کې دغه کرښه ور لاندې ایستل کېږي. لکه: متضادې کلمې هغه کلمې دي، چې د مانا لۀ پلوه د یؤ او بل ضد وي. ( تېره شپه احمد زموږ مېلمه و، کله چې سبا شو ، ورځ پخه شوه ، خپل کور ته لاړ)

په پورته لنډ متن کې شپه اؤ ورځ متضادې کلمې دي.

### آت نښه (@)

دا نښه د انګلیسي په لیکنو کې کاریدله ، خو د انټرنیټ د عامیدو وروسته په انټرنټي ویپاڼو، موسسو اؤ د اشخاصو درک\ پتو د ښودلو لپاره په پښتو کې ځای نیولی دی اؤ د پښتو په لیکنو کې هم ځای لري.

لکه: **Karim ullah.Afgan@Gamail.COM**

او د لیک نښو په ورستیو کې دومره وایم ،چې لیک نښې نورې هم شته خو تر ټولو مهمې لیکنښې چې په پښتو متنونو کې کارؤل کېږي همدا پاس ذکر شوي لیک نښې دي. هیله دا د سمې کارؤنې سره اشنا او په سم ډؤل یې وکارؤئ.

## ليکدوديز توپېرونه

### ان شاء الله ليکدود يا املايې ستونزې مو حل کېدای شي.

### يؤازې، يؤاځې

• **يؤازې: فقط \ صرف (only)** : بېلګې: د هغه پورې دوکان څخه يؤازې بوره راوړه. يؤازې مې غوښتل چې درته وويم. يؤازې مې سور قلم په کار دی. يؤازې مې غوښتل چې خبر دې کړم. يؤازې مې کمپوټر ته اړتيا ده. په زړۀ مې يؤازې يؤ ارمان دی!

• **يؤاځې: تنها \ ګوښې (alone)** : بېلګې: زۀ په دې کور کې يؤاځې (تنها) اوسېږم. يؤاځې (تنها) ژوند کول ستونزې لري. احمد نن ورځ يؤاځې ښوونځي ته روان دی. زۀ يؤاځې يم. زه به يؤاځې ستا لپاره ژوند وکړم. زه يؤاځای خارج ته ځم.

### پخوا او په خوا

• **پخوا (Ago):** پخوا: لۀ هغۀ سره يې له پخوا مينه وه. پخوا ډېر ښۀ وختونه وو. احمده! د پخوا په څېر نۀ يې، ډېر بدل شوی يې. پخوا به خلکو په اخترونو کې خواښې کوُلې ،خو اوس حالات بېخي ښۀ نۀ دي، زړونه مړه ٔشوي دي!!! پخوا افغانستان دوه نور نومونه لرل ، اول اريانا دوهم خراسان .

• **په خوا: (Next)**طرف ، تر څنګ،نږدې ته وايي،لکه: دغه ټول شاګردان زما په خوا رارون دي. همدرد د جلال په خوا کې د ابدي ارام غېږ ته سپارل شوی دی. احمد زما په خوا کې ناست دی. زموږ د کور په خوا کې لويه ويلا بهيږي. لنډۍ: زما د قبر (مړستون) په خوا راشه ديدن به نۀ وي راته پورته کړه لاسونه

### مخکې او مخ کې

• **مخکې:(ago)** : مخکې يؤازې يؤ مهالي قيد دی او تېر مهال ته اشاره کوي. لکه:هغه دوه کاله مخکې لاړ. ما مخکې زنګ ورته کړی و. مخکې ډېر ښۀ وخت و. زه مخکې په کابل کې وم. زه مخکې ډېر لايق وم. احمد مخکې ښۀ و.

• **مخ کې: (in front of )** : مانا يې پر وړندې ده، لکه: زما په مخ کې داسې خبرې مه کوه. د غريب په مخ کې د خپلې شتمنۍ خبرې مه کوئ. د ناروغ په مخ کې د خپل د ښۀ صحت خبرې مه کوئ. زموږ کور د بلال د کور په مخکې دی.

### نارينه او نرينه

• **نارينه: (Noun )**نارينه: نوم دی چې سړي ته ويل کېږي. لکه:يؤ څو نارينه راوغوره. د دې کلي نارينه غرۀ ته تلالي دي.زموږ نارينه اوس راغلال. دا کار د نارينه وو نۀ دی. نن ورځ په ټولګې کې لس پنځلس نارينه موجود دي.

- **نرینه: (Adjective)**: ستاینوم یا صفت دی،د سړي اړوند مانا ورکوي. لکه:دا نرینه جامې نهٔ دي بلکې ښځینه دي.  دلته نرینه ستاینوم یا صفت دی، چې جامو ته اشاره کوي. دا بوټان د نرینه دي.  دا څپلۍ د نارینه دي.

**ښيي ، ښايي**

- **ښيي:** د ښوولو اوړون دی ، لکه: د نرینه و سره لونګۍ او واسکټ ډېر ښهٔ ښيي. احمد مورږ ته درس ښيي.

د افغانستان اوسنی حالت ښيي ، چې نښتې او تاوتریخوالی نور هم زیات شي. بلال مورږ ته کور ښيي.

- **ښايي:** یو کړول (قید) دی، د کېدای شي یا ګوندې مانا ورکوي.  لکه:ښايي زه دا کار وکړم. ښايي سبا یا یل سبا ازموینه واخیستل شي. ښايي باران واوریږي.     ښايي زه راتلوونکې اوونۍ کابل ته لاړ شم.

**زده کړه،زدکړه**

- **زده کړه:(Learn):**دا د زده کولو،چې کړ (فعل)دی،امر یه بڼه ده او هم یؤ تن ته د امر کولو مانا لري. لکه:خپلو اولادونو ته پښتو ور زده کړه.(د زده کولو امریه بڼه ده). لومړۍ د پښتو پنځه ییګانې زده کړه نور لیکدود اسانه دی.

- **زدکړه(Education):**دا د نوم په توګه کارول کېږي د تعلیم مانا ورکوي. لکه:په مورنۍ ژبه زدکړه(تعلیم) په زړهٔ پورې وي. . د هر کسب زدکړه (تعلیم) ښهٔ وي یؤ وخت پکاریږي. د پښتو ژبې زدکړه (تعلیم) اوس ډېره اسانه ده.

**قرار او کرار**

- **قرار:ارم (REST)** لکه:هغه مې چې ولیده ،زړهٔ مې قرار شو او په خوږې کرار کېناستم.  د مور په لبدو مې زړهٔ قرار شي. کله چې د هېواد پخوانی ولسمشر محمد اشرف غني احمدزی په انځورونو یا په ویډیوګانو کې ووینم، زړهٔ مې قرار شي.

**کرار:ورو(SLOW ):**زهٔ نن ورځ کرار کرار ښار ته لاړم. احمد نن ورځ کرار کرار ښونځي ته راروان دی. زما کرار تګ نهٔ خواښېږي.

**زښت، څښت**

- **زښت:( A lot of):**د خواره ډېر په مانا کارؤل کېږي: بېلګه: نن ور ځ ښووونځي ته زښت ډېر زده کؤونکي راغلي وو.

- **څښت:(Hate):** د چا بد راتلل: احمد زما ډېر څښت دی. بلال زما ډېر څښت دی.

لیکوال: کریم الله ( افغان )    اړیکي شماره : 0772213809

## ګډیدل،ګډېدل

• **ګډیدل: (Dancing)**د تاؤیدو ، نڅایدو په مانا کارؤل کېږي. بېلګه: احمد د ورور په وادهٔ کې ګډیدل زده کړل. • **ګډېدل:** په یؤ ځۀ ورګډېدل. بېلګه: یاني په اوبو ور ګډېدل ، په دریاب ور ګډېدل.

## اخ، وخ

ډېر لیکوونکي د (اخ) اؤ (وخ) د هیجاني غږونو تر منځ تېروزي ،د دوی د (اخ) پر ځای (وخ) اؤ د (وخ) پر ځای (اخ) کارؤي، اوس مهمه دا ده چې فرق یې وکړو اؤ سمه کارؤنه یې وکړو.

• **اخ:(Pooh):** د خوند د اخېستو په مانا کارؤل کېږي، هغه وخت کارؤل کېږي چې حالت خوارهٔ وي،شېبې زړهٔ ښوونکی وي اؤ په اوریدو اؤ ویلو یې سړی خوند اخلي. ( اخ ! څۀ ښه هوا ده.)

• **وخ: (Oh)**:د درد ، خپګان اؤ زړ ۀ بدی په وخت کې کارؤل کېږي . بېلګه: ( وخ! احمد وفات شو.)

## توان ، تاوان

• **توان:( Power)**وس او قدرت ته وایي، لکه: که خدای توان راکړ؛ یؤ کور او موټر اخلم. زۀ دا توان نۀ لرم ، چې لیکدود زده کړم ، زۀ د خپل توان پّ اندازه د کور اؤ ګاونډ غریبو اؤ اړمنو وګړو سره مرسته کوُم.

• **تاوان: (Compensation)** : زیان(نقصان) ته وایي، لکه: پرون مې په کاروبار کې تاوان وکړ. زۀ نن سبا سخت په تاوان کې یم. کله چې یؤ کاروبار کوُئ، منفي اؤ مثبت اړخونه یې وګورئ، تر څو په راتلوونکي کې د تاوان (نقصان) سره مخ نۀ شئ.

## مینه اؤ مېنه

• **مینه:(LOVE) :** زه له خپلې مورنۍ ژبې سره خواره زیاته مینه لرم. د خپل هېواد اؤ د هېواد لۀ اوردو ، ملي او دفاعي ځواکونو سره د زړهٔ لۀ تله مینه لرم. پر ما مې مور زیاته ګرانه ده، زۀ د خپلې مور سره ډېره مینه لرم.

• **مېنه:(PLACE )**: د ځای په مانا کارؤل کېږي،نبک محمد په رحمان بابا مېنه کې اوسېږي. زۀ تېر کال د سپرلي په موسم کې د پوهنتون د درسونو لپاره په خوشحال مېنه کې اوسېدم.

## پرخه، پرښه

• **پرخه : شبنم :** هغه ځاڅکي چې سهار وختي پر ګلانو پرتهٔ وي. د سهار پرخه پر ګلانو ښه ښکاري.

• **پرښه : (Rock):** خورا لویه ډبره : هغه ډبره چې د شکل او وزن لۀ مخې لویه وي. دلته پرښه ایښې ده.

لیکوال: کریم الله ( افغان )
اړیکي شماره : 0772213809

## پښه ، پخه

- **پښه: (Foot):** د بدن  هغه لاندینۍ برخه چې ورون پرې ولاړ وي او پنځۀ ګوتې لري. زما پښۍ درد کوّي.
- **پخه:( Bake):** د پوخ ښځینه بڼه ده . لکه: ډوډۍ پخه ده. غوښه سمه پخه نۀ وه(اومه) وه.

## اصول ، وصول

- **اصول:(Role ):** د مقرارتو او اصولو په مانا دی ، لکه: ما د ژوند هري برخې لپاره ؛ خپل اصول ټاکلي دي.د ابتکار ښوونیز مرکز اصول دا دي چې باید یۀ زده کوُونکی باید زدکړې تر څنګ ادب هم زده کړي.
- **وصول:(Pay )**د رسېدلو یا د ډاډ منبدلو په مانا دی، لکه : په کلاب پسي ۳۲ زره افغانی وصول شوې.

دواړه په یوُه جمله کې لوُلو : سږکال مشعل حصوصي ښونځي ته د اصولو مطابق درسي مواد وصول شول.

## قبر، کبر

- **قبر یاني مرستون:Grip**کله چې مړ شم ، زما مرستون (قبر) باندې به د افغانستان دري رنګه ملي بیرغ ځاړوُئ؟ • **کبر**: تکبر،غرور، په شته مال او دولت دې تکبر\غرور مه کوه ، کبرجن د الله ج دښمن دی!

## شیر  او  شېر

- **شیر: Milk**د دري ژبې لفظ دی ، د شېدو په مانا دی، د احمد د غوا شیر (شودې) ډېرې خونداورې دي.
- **شېر:Lion**د دري ژبې لفظ دی،د زمري په مانا دی،احمد د شېر(زمري)په راقم تکړه دی.شېر د ځنګل پاچا دی.

## کلیزه، کالیزه

- **کلیزه:Calendar**: په کلیزه یا جنترۍ کې د سږکال روژه د وړي  په موسم کې راځي
- **کالیزه:Anniversary**: د اکتوبر د میاشتې په اوومه نیټه د حسین الله ګران کالیزه یا د زېږیدو ورځ ده.

## ځارۍ او زارۍ

- **ځارۍ: (Sacrifice)د** ځاریدلو په مانا ده،  زه لۀ خپل مور او پلاره ځاریږم. زه د خپل هېواد څخه ځاریږم(قربانیږم).
- **زارۍ: (Begged)د** سوال اوُ زاریو په مانا ده، زه درته زارۍ کوُم چې هېواد مه ورنوُئ. زه تاسې ته زارۍ کوُم چې مور مه خپه کوُئ، د مور زړۀ وساتئ.

لیکوال: کریم الله ( افغان )        اړیکي شماره : 0772213809

## که نه ، کنه

- **که نه:** د هغو پښتنو په پای کې راځي چې ځوابونه يې څرګند، ياني هو\نه وي. لکه: تهٔ زما خبره مني او که نه؟ هغه کار دې وکړ او که نه؟ هغه راغلی و او که نه؟

- **کنه:** دغه د تاکيد يا ټينګار ويی دی، چې په لاندې حالتونو کې کارول کېږي.لکه: همدا خو غم دی کنه؟

ما خو درته ويلي و کنه. مقابل لوري موافقې او د ځان ډاډمنولو په پار کارول کېږي. لکه: همداسې ده، کنه؟

ورځو به، کنه؟ دا کرانه ده، کنه؟

## ليمو اؤ لېمو

- **ليمو:** **(Orange)** ليمو د مېوې په مانا ده، بېلګې: ليمو ډېرې ګټې لري، ليمو د ويټمين سي درلودونکی دی. ليمو د کرونا ويروس ته ډېر ګټور تماميږي، ليمو د مخ تور پوستکي لهٔ منځه وړي. د ليمو اوبهٔ د وزن په کمښت کې راغنده رول لوبؤي.

- **لېمو** **( Eyelashes):** د سترګو د بڼو په مانا کارول کېږي. ستاسې راتک زموږ د سترګو پر لېمو. ستاسې قدمونه زموږ د سترګو پر لېمو. نقد اؤ نظر مو پر لېمو.

## ورځ ، وريځ ، وروځې، ورځې

- **ورځ:** **(Day)** نن ورځ ډېره ګرمه ده( هوا ډېره توده ده). ورځ په ورځ د هېواد د حالاتو خوند ځي.

- **وريځ:** **( Cloud)** نن ورځ اسمان ډېر وريځ ده. سبا يا بل سبا اسمان د اټکل لهٔ مخې وريځ ښودل شؤی دی.

- **وروځې:** **(Eyebrow)** د تندي وروځې: د احمد د تندي وروځې ډېرې ګڼې دي.

- **ورځې:** **(Days)** د ورځ ډېر ګړی دی. بېلګه: دا څو ورځې مې ذهن بيخي کار نهٔ کؤي. دوې ورځې زه ښار ته نهٔ ځم.

## لومړی، لومړنی

- **لومړی:** **(First)** يؤ شمېر نوم دی ،چې د نرينه څيزونو او نومونو مخکې راځي. لکه:لومړی کال، لومړی خواب، لومړی زده کوونکی...

**لومړنی:** **(First)** هم يؤ شمېر نوم دی ،چې د نرينه څيزونو او نومونو مخکې راځي. لکه:لومړنی کال، لومړنی خواب، لومړنی زده کوونکی...

## لومړۍ، لومړنۍ

- **لومړۍ:(First For Female )** د ښځینه څیزونو او نومونو مخکې راځي. لکه:لومړۍ پوښتنه، لومړۍ جمله ، لومړۍ ونه ...

- **لومړنۍ:(First For Female )** د ښځینه څیزونو او نومونو مخکې راځي. لکه:لومړنۍ پوښتنه، لومړنۍ جمله ، لومړنۍ ونه ...

## لګول ، لړول

- **لګول:( Span)فرهاد** نن ورځ ډېرې روپۍ ولګولې. بې ضرورته پیسې مه لګوئ، زما لاس د دروزې سره لګیږي.پخپله یې وګټه بیا یې ولګوه؟ • **لړول: (Little )** د دې ځای اوبه نورې مه وړه لړیږي(کمیږي). د دوکان څخه کتابچې مه وړئ، لړیږي.

## لګ \ لړ

**لګ(Touch )**: لمس ، لګول ، لګېدل: زما د کتاب سره لاس لګېږي. د دیوال سره زما لاس لګېږي.
**لړ (Little) کم :** ببلګه : د دې ځایه بوره مه وړئ، لړئږي. کتابونه مه وړئ، لړیږي.

## زه ، ځه

- **زه: (I)**د لومړي تن لپاره کاروُو .لکه:زه بازار ته لاړم. زه هر وخت ښوونځي ته ناوخت راځم.

- ځه: (go)د (تلال) په مانا دی،ل که: ځه،هلته لاړ شه. احمده! ځه لاړ شه ، کور ته لاړشه.

## لۀ خوا او لخوا

- له خوا: د لاندېنیو ویونو هممانیزونه دي. لۀ اړخه \ له پلوه \ لۀ لوري ببلګې: لۀ دغې خوا ډېر باد راځي.

زما له خوا ورته سلام وایه! یادؤنه:له...خوا ډېر وخت ببلیږي او تر نومونو چاپیریږي.

- **لخوا:**په ښوونځي کې د د مدیر لخوا د موبایل بندیز د ډېرو ستونزو مخه نیسي. ګڼ شمېر ګټوري پروژې د نؤي وزیر لخوا په لاره اچول شوي دي.

## په خپله\پخپله

- **په خپله:** یؤ نومځرى دى چې ځښتنوالى ځرګندوي او د ځیز یا شي ښځینه بڼې لپاره راځي. لکه:پۀ خپله خاوره سوله غواړم. احمد په خپله کوټه کې ناست دی.

- **پخپله:** پخپله هم یؤ نومځرى دى، چې د یؤ فاعل په توګه سره کارؤل کېږي. دغه ویی د انګریزي **oneself** سره سمون خوري. لکه: زه دغه کار پخپله کؤم. احمد پخپله دلته راغی.

لیکوال: کریم الله ( افغان )
اړیکي شماره : 0772213809

## ای،اې

• **ای:** د نرينه نومونو لپاره کارول کېږي . لکه ای زما افغانستانه ! ای زما خدايه! ای احمده! او داسې نور ...

•**اې:** د ښځينه نومونو لپاره کارول کېږي.لکه:اې، جينۍ ! خدای څۀ ښۀ ښايست درکړی دی.اې ، جينۍ! پښيمانه به شې!

## له پاره، لپاره

• **له پاره:** د متکلام لپاره کارول کېږي. بېلګه: ( دا کمپيوټر زما له پاره دی. دا قلم زما له پاره دی.)

• **لپاره:** د مخاطب اؤ مخاطيبينو لپاره کارول کېږي. ( دا ټولګی ستاسې لپاره دی. دا قلم ستا لپاره دی.)

## په ، پر

• **په(in)** دا دواړه ناخپلواکې کلمې دي ؛ هغه مهال کارول کېږي، کله چې يؤ شی په بل پوري پيؤست يا يؤ څوګ کوم ځای کې دننه وي، لکه: د ئ (مشوانۍ) په قلم مې ليکل زده کړل. په ديوالو ختل مې زده کړل.

د ننه بېلګې يې: تا په کوځه کې ټوخی وکړ     زه په مستو کاکړه خولۀ در ووتمه

• **پر(On)** هغه مهال کارول کېږي ، کله چې يؤ څۀ د بل د پاسه وي. لکه: احمد پر تخت پروت دی.

لنډۍ : که دې زما ديدن ياديږي     سپوږمۍ ته ګوره زه پر بام ولاړه يمه

سپوږمۍ پر ما دې څۀ احسان دی     زما اشنا د ديواله سيوري ته ځينه.

## لۀ لامله \ لۀ امله

**لۀ لامله:Reason** لامل ، وجه ، ډاکټر عبدالله د کرونا لۀ امله سا ورکړه! ډاکټر عبدالله د کرونا لۀ لامله سا ورکړه! لۀ امله خو بيخي ناسم دی مه يې ليکۀ!

## لۀ ، د

• **لۀ : انګليسي کې from** سره سمون خوري. • **د :** انګليسي کې of سره سمون خوري.

ډېر وخت خلک د (لۀ) پر ځای (د)کاروي ، چې په جملو کې مانيز توپير راپيدا کوي. بېلګې: تل به دې ساتم لۀ پردو وطنه! تل به دې ساتم د پردو وطنه! دواړه جملې د مانا لۀ مخې توپير لري . د لومړۍ جملې مفهوم دا دی؛زما خپل وطنه تل به دې لۀ پرديو ژغورم او د دويمې جملې مفهوم دا دی؛د بل چا يا دپرديو وطنه تل به دې ژغورم. **د :** د اضافت توری دی او ډېر وخت د اضافت دنده ترسره کؤي ، لکه: د احمد کتاب ، د ځانګې ورور ، د علي موټر او نور ...

• **سم :** لهٔ ښار څخه کاکا راغی! • **ناسم :** د ښار څخه کاکا راغی! • **سم :** غبږ لهٔ کومې خوا راغی! • **ناسم:** غبږ د کومې خوا راغی!

**دوې او دوو**

• **دوې:**په ښځینه نومونو او وییونو کې کارول کېږي. لکه:جینۍ ، لرۍ ، سترګه، پښه ... دوې جینۍ، دوې لارۍ، دوې سترګې، دوې پښې... • **دوو:** د نرینه او ښځینه دواړو لپاره کارول کېږي. لکه: دوو ښځو ، دوو سړیو ، دوو انسانانو ، دوو څناورو

**ډېرى او ډېرې**

• **ډېرى:**په نرمه یا یۀ قید دی او د اکثر مانا ورکوي. ډېرى خلک په زده کړو بوخت دي، لږ خلک نه.

• **ډېرې:** د ډېر ښځینه بڼه ده لکه: ډېرې اوبه ، ډېرې ښځې، ډېرې مڼې ، ډېرې مستې او داسې نور...

**څنګه\څرنګه**

دواړه یوُه مانا لري، پخوا به څهٔ رنګه دود و او د وخت لهٔ تېریدو سره پر څرنګه او وروسته ان پر څنګه واوښت. تر ټول ښه اوُ کره بڼه یې څنګه ده.

**ورونه ، وروڼه**

• **ورونه: (Doors)**د ور (داړې یا دروزې) ډېر ګړی یا جمع دی. هلکانو ټول ورونه مو بند کړئ.

• **وروڼه: (Brothers)**د ورور ډېر ګړی دی. لکه: خدای(ج) دې راته لري، زما ټول وروڼه ډېر ښهٔ دي.

**په کې، پکې**

• **په کې:** د انګریزي د in سره سمون خوري. لکه:زهٔ په کور کې یم . احمد په ښوونځي کې دی .

• **پکې:** د انګریزي د inside سره سمون خوري. لکه:ماته هغه کلی خوند راکوي ،څکه چې جانان پکې اوسیږي. هغه کوټه چې زهٔ پکې ناست وم،ډېره لویه وه.

**دوه او دوې**

• **دوه:**کله چې نوم نرینه وي ، بیا دوه راځي لکه: دوه زده کوونکي . دوه هلکان . دوه کوروته .دوه توپونه.

• **دوې:**کله چې نوم ښځینه وي بیا دوې راځي ، لکه: دوې نجونې، دوې ښځې ، دوې منډې ، دوې دقیقې.

**دواړه ، دواړې**

• **دواړه:** کله چې نوم نرینه وي بیا دواړه راځي. لکه: دواړه لاسونه، دواړه وروڼه ، دواړه زده کوونکي.

• **دواړې:** کله چې نوم ښځینه وي بیا دواړې راځي. لکه:دواړې پښې ، دواړې ښځې ، دواړې خویندې.

**لیکوال: کریم الله ( افغان )** **اړیکي شماره : 0772213809**

## مهال CURRENTLY،محالIMPOSSIBLE ، محل

**مهال:** په پښتو ژبه کې کارول کیږي  بېلګه: زه اوسمهال په کارونو بوخت یم. زه اوس مهال لیکل کوُم.

• **محال:**د عربي ژبې ویې دی ، په فارسی کې هم کارول کیږي مانا یې ده : ناشونی یاني دا کار ناشونی دی. لکه:هېڅ محال نهٔ شي کېدلای چې دا کار به شوی وي.   • **محل:** ځای ، احمد په پنځم محل کې دی. زه په لسم محال کې زده کړه کوُم.

**نمانځل ، لمانځل**

• **نمانځنه:CELEBRATION:**سږ کال د خپلواکۍ ورځ په خوښۍ سره ونمانځل شوه. موږ هر کال د مور ورځ نمانځو.   • **لمانځل:WORSHIP:** د عبادت په مانا ده :په هندوستان کې مذهبي مراسم ولمانځل شول یهودیانو خپل مذهبي مراسم په خوشالۍ سره ولمانځل.

## ځینې،زینې، زنې

• **ځینې(Some)**یوُ خپلواک نومځری یا ضمیر دی،چې مانا یې بعضې ده.لکه:ځینې پښتانو خپله پښتو هېره کړې ده.  • **زینې:(Stair)** د (زینه) د ختلو آلې ډېر ګړی یا جمع حالت دی. زمو‌ږ په کور کې پنځهٔ اوُ شپږ زینې دي. • **زنې:** (Beards)د ږیرې  (زنه) شاوخوا ډېر ګړی یا جمع ده.  د احمد او محمود زنې خدای(ج) ښې جوړې دي.

**چېرته، چرته، چېرې**

• **چېرته\ چرته:(Shows direction):** د لوُر یا جهت په مانا کارول کیږي: بېلګه: حالده! چېرته \ چرته ته روان یې؟   • **چېرې:(Shows Location )**د ځای، مکان، یا موقعیت لپاره استعمالېږي. خالد خانه! د یوُه میاشت چېرې وې، چې نهٔ ښکارېږې؟  **نوټ:** چېرته او چرته دواړه دواړه په یوُه مانا اوُ دواړه سوچه هم دي، خو منل شوُی او معیاري یې چېرته دی.

## ولاړ، لاړ، لاړ شه ، لاړ شي

**ولاړ: (Stand)**د ودرېدو په مانا دی، بېلګه: د ښوونکي د احترام په پار ولاړ شئ.  • **لاړ: (Go)**د تللو مانا ورکوي په بشپړ تېر مهال کې لکه:هغه پرون ښار ته لاړ. احمد نن وختي کور ته لاړ. • **لاړ شه(Move)** یوُ کس ته د تللو امري بڼه ده. لکه: تهٔ هلته لاړ شه. احمده! کور ته لاړ شه.  • **لاړ شي:**شرطي \ امکاني اوس مهال او بشپړ راتلوونکی مهال. لکه:که هغه لاړ شي نو ما ته اویه(شرطي اوس مهال) هغه به سبا ته لاړ شي (بشپړ راتلوونکی)

**ولې،ولې، ولي، والی، ولۍ**

• **ولې: (why)**د نباتاتو د ریښو په مانا کارول کیږي: بېلګه: د چینار ونې ډېرې په ځمکه کې ژوُرې تلالي وي.

• **ولې: (Root)**د یوُ څهٔ د پوښتنې په پار کارول کیږي: بېلګه:  تهٔ ولې ښوونځي ته ناوخت راځې؟
•**ولي:(Noun)** د نوم په مانا کارول کیږي: بېلګه: د احمد مشر ورور ولي نومیږي.

لیکوال: کریم الله ( افغان )     اړیکي شماره : 0772213809

• **ولي: (Governor)**د يو ولايت د ولي په نامه هم کارول کېږي: بېلګه: د خوست پخوانی ولي عبدالجبار نعيمي نومېدهٔ. • **والی(eringes)** د غوړ والیو په مانا کارول کېږي: بېګه: د نجونو او پیغلو والی زیاتې خواښيږي. • **ولئ: (Shot)**يو فعل دی ، د ويشتلو امريه بڼه ده: د کلي او کاونډ غلهٔ په کانو ولئ.

### شين ، شنه، شنهٔ ، شنې

• **شين:** د نارينه نومونو او څيزونو لپاره کارول کېږي. ( نن ورځ اسمان شين دی، زما شين رنګ زيات خواښيږي). • **شنه:** د ښځينه نومونو او څيزونو لپاره کارول کېږي. ( زموږ د کور په خوا کې شنه شوتله ولاړه ده). • **شنهٔ:** د نارينه جمع نومونو او څيزونو لپاره کارول کېږي. ( شنهٔ واښهٔ او شنهٔ جوار د سترګو ديد پياوړی کوي). • **شنې:** د ښځينه جمع نومونو او څيزونو لپاره کارول کېږي. ( د احمد شنې سترګې دي. زما شنې جامې خواښيږي.)

### تريخ، تراخه، تراخهٔ، ترخې

• **تريخ:** د نارينه څيزونو لپاره کارول کېږي. ( د نن ورځې پخلی ډېر تريخ دی.) • **تراخه:** د ښځينه څيزونو او نومونو لپاره کارول کېږي. ( د غوښې زېمنه ډېره ترخه ده.) • **تراخهٔ:**د نارينه نومونو او څيزونو لپاره کارول کېږي. ( نن ورځ ما او احمد تراخهٔ ناک وخوړل.) • **ترخې:** د ښځينه جمع نومونو او څيزونو لپاره کارول کېږي. ( کومې اوبهٔ چې ما وڅښلې ډېرې ترخې وې.)

### اوس،وس،اوسي،وسي

• **اوس ،فعل حال( now):** زهٔ همدا اوس ليکل کوم. ما همدا اوس ډوډۍ اوخوړه. زه اوس کور ته ځم.

• **وس،توان (ability):** همدا مې وس وهٔ،لهٔ تاسره نوره مرسته نهٔ شم کولای. • **اوسي:**د اوسيدو په مانا ده، يو تن ته د دعا او هيلې په موخه ،لکه: خوښ اوسي. تهٔ چرته اوسې؟ • **وسي:**د وس اوښتي بڼه ده ، لکه: زما له وسي نهٔ ده پوره. دا زما لهٔ وسې اوښتې خبره ده.

### ځوړ، زوړ ، ځړېدل، زړېدل

• **ځوړ: (Down)**د ښکته په مانا دی. ( احمد نن ورځ ډېر خپه و، سر يې ځوړ نيولی و.) • **زوړ: (Old)**د ډېر عمر د تېريدو په مانا کارول کېږي. ( د احمد نيکهٔ ډېر زوړ دی ، ياني ډېر د ستر عمر دی.) • **ځړېدل:** د راپيدو او راځوړند کېدو په مانا دی. ( منصور په خپله مينه کې په دار ځړيدل قبلول...) • **زړېدل:** د احمد بوټان زاړهٔ شوي دي. زموږ بوټان په زاړيدو دي.

### نوی، نوي، نوې، ناوي، ناوې

• **نوی:(New)** د جديد په مانا دی . ( احمد نوی موټر واخېست. د بلال نوی بلين خواښيږي.)

•**نؤي:**د نؤی ډېر ګړی دی. (احمد د احتر لپاره نؤي بوټان واخيستل. زما نؤي بوټان خواښېږي.)

• **نؤي:(Ninety)** د نيتي په مانا کارؤل کېږي. ( احمد تېره ورځ په کريکټ کې نؤي رنځونه جوړ کړل.)

• **نؤې:** د نؤی اوښتي ښځينه بڼه ده. ( ملالۍ د احتر لپاره نؤې لښتۍ واخيستې.) • **ناؤي(Bride)**د ښځينه يؤ ګړي لپاره کارؤل کېږي. (احمد خپل ورور ته ناؤي راوړه.) • **ناؤې: (Brides)**د ناؤي ډېر ګړی دی. ( احمد خپل ورونو ته ناؤې راوړې.)

**لېوه، لېوۀ، لېوې**

• **لېوه:** هغه ځای ته ويل کېږي:چې هلته پوځي تمرينات ترسره کېږي.(په خوست کې د اردو يؤه لېوه شتون لري.) • **لېوۀ: (Wolf)**د ځنګل د خيوان په مانا کارؤل کېږي. ( لېوۀ د ځنګل خطرناک خيوان ګڼل کېږي.)
•**لېوې:** د لېوه ډېر ګړی دی، په افغانستان کې کم اؤ زيات لس لېوې موجودې دي،

**مړ، مره، مړۀ، موړ، ماړۀ**

• **مړ:** د نارينه يؤ ګړي لپاره کارؤل کېږي. ( د احمد پلار مړ دی.) • **مره:** د ښځينه يؤ ګړي لپاره کارؤل کېږي. (د بلال مور مره ده.) • **مړۀ:** د نارينه جمع يا ډېر ګړي لپاره کارؤل کېږي. ( د سلطان ورونه مړۀ دي.)
• **مړۀ:** د نارينه اؤ ښځينه جمع لپاره کارؤل کېږي. (د عرفان مور اؤ پلار مړۀ دي.) • **موړ:** سلطان موړ دی. • **ماړۀ :** موږ ماړۀ يو.

**وده، وادۀ**

• **وده: )**دتاکثر يا نامو په مانا کارؤل کېږي. ( د خبوباتو په خوراک سره د انسان بدن وده کؤي.) • **وادۀ: (Wading)**جشن وارۍ په مانا کارؤل کېږي. ( راتلوونکي پنج شنبه د احمد د ورور وادۀ دی.)

**پښتون ، پښتانه ، پښتانۀ ، پوښتنه**

• **پښتون:**د نارينه يؤ ګړي لپاره استعمالېږي.ببلګې: قانع پښتون دی. زه يؤ ځواکمن او غښتلی پښتون يم.

• **پښتانه:** د ښځينه يؤ ګړي لپاره کارؤل کېږي. (ملالۍ پښتانه ښځه ده. احمد پښتانه مېرمن را وادۀ کړه)

• **پښتانۀ:** د نارينه ډېرګړي لپاره کارؤل کېږي. (موږ ټول پښتانۀ يؤ،خدای مو دی لري. پښتانۀ ښکلي دي)

• **پوښتنه:** د پوښتنې کؤلو په مانا کارؤل کېږي، (ببلګه: پوښتنه وکړه چې ځواب يې درکړم.)

**لري،لرې، لری،ليرې،لرئ**

• **لري:(Have)**د لرلو مانا لري د دريېم کس لپاره کارؤل کېږي: (هغه\هغوی) لکه:هغه\هغوی تبه لري . ...

• **لرې:(Far)**د لرلو مانا لري د دويم کس(تهٔ) لکه:تهٔ تبه لرې. تهٔ پيسې لرې. ...

• **لرى)**د څارويو په خېټه\ګېډه کې چې موجود وي. لکه:نن موږ د غوا لرى پوخ کړى و.

• **ليرې:(A long)**ډېر واټن(فاصله)لرونکى لکه:زموږ کور ډېر ليرې دى. • **لرۍ:(Truck)**هغه لوى موټر ته وايي چې اکثريت منګل يې لري،د غرونه څخه تر ډېره لرګي په کې باروي.

## شم ، شې، شي، شو

• **شم:** د متکلم ښځينه او نارينه دواړو لپاره کارول کيږي.بېلګه:(زه به خوښ شم. زه به کور ته لاړ شم)

• **شې:** د مخاطب ښځينه او نارينه دواړو لپاره کارول کيږي . بېلګه: (تهٔ به خوښ شې، تهٔ به را شې)

• شو: د متکلم ښځينه او نارينه دواړو ډېرګړي لپاره کارول کيږي بېلګه: (موږ به خوښ شو. موږ به لاړ شو)

• **شي:**د غايب ښځينه او نارينه دواړو ډېر ګړي لپاره کارول کيږي بېلګه:هغوى به خوښ شي.دوى به راشي.

## غل،غلا،غلهٔ،غله،غلې

• **غل:(Thief)** احمد غل دى. (د نرينه مفرد لپاره استعماليږي) • **غلا: (Steel)**احمد غلا وکړه. ګل پاڼې غلا وکړه. (د ښځينه او نرينه دواړو لپاره استعمالېداى شي) • **غلهٔ (Thief's)**دوى دواړه غلهٔ دي. ( د نرينه جمع لپاره استعماليږي) • **غله:** ملالۍ غله ده. (د ښځينه مفرد لپاره استعماليږي) • **غلې:** ګل پاڼه او ملالۍ غلې دي. (د ښځينه جمع لپاره استعماليږي)

## کوڼ ،کاڼهٔ ، کڼه ، کڼې

• **کوڼ:** زهٔ کوڼ يم ( د نارينه يؤ ګړي لپاره کارول کيږي) • **کاڼهٔ:** تاسو کاڼهٔ شوئ؟ (د نارينه ډېر ګړي لپاره کارول کيږي) • **کڼه:** زهٔ دې کڼه کړم ( د ښځينه يؤ ګړي لپاره کارول کيږي) • **کڼې:** موږ دې کڼې کړو ( دښځينه ډېر ګړي لپاره کارول کيږي)

## سوړ ، ساړهٔ ، سړه ، سړې

• **سوړ:** زه سوړ چاى څښم . • **ساړهٔ:** زما ساړهٔ کيږي. • **سړه:** زه سړه ډوډۍ نهٔ خورم. • **سړې:** زه هره ورځ سړې اوبه څښم.

## لوند ، لاندهٔ ، لنده ، لندې ، لونده ، لوندې

• **لوند:** زه دې لوند کړم (نرينه يؤ ګړى) • **لاندهٔ:** موږ دې لاندهٔ کړو ( نرينه ډېر ګړى) • **لنده:**ملالۍ دې لنده کړه( ښځينه يؤ ګړى) • **لندې:** ګل پاڼه او ليلا دې لندې کړې. ( ښځينه ډېر ګړى) • **لونده:** د ويشتلو آله ده،په لونده ګوزار مه کاوه. • **لوندې:** د لونده ډېر ګړى دى : احمد دوکان ته ډېرې لوندې راوړې.

ليکوال: کريم الله ( افغان ) اړيکي شماره : 0772213809

## مېلمه ،مېلمانهٔ ،مېلمانه،مېلمنې

• **مېلمه:**زه نن ورځ یؤ مېلمه لرم. (نرینه یؤ ګړی) • **مېلمانهٔ:**مورږ نن ورځ مېلمانهٔ لرل (نرینه ډېر ګړی)

• **مېلمانه:**مریم نن ورځ مېلمانه لري (ښځینه یؤ ګړی) • **مېلمنې:**دوی نن ورځ مېلمنې درلودې (ښځینه ډېر ګړی)

## ظالم، ظالمان ،ظلم

• **ظالم: د نرینه یؤ ګړي لپاره استعمالیږي. (**احمد ډېر ظالم دی.) • **ظالمان:** د نرینه ډېر ګوي لپاره کاروٗل کېږي. ( د ظالمانو ملګري مه کوئ.) • **ظلم:** په غریب او یاتیم ظلم مه کوئ.

## انشاء الله او ان شاء الله ترمنځ لوی توپیر

د دوی دواړو ویونو ترمنځ توپیر وکړئ ،ګني په لویه ګناه باندې په مبتلا شئ.

• **انشاء الله:** انشاء رامنځته کول یا د لومړي ځل لپاره پیدا کول ته وایي، که چیرته د **انشاء** څخه وروسته د الله نوم راشي ،نو نغوذبالله مانا یې راځي الله رامنځته کوٗل ، یانې که الله تعالی بل چا پیدا کړی وي او **(ان شاء الله)** مانا ده : که الله تعالی یې اوغوړي.

## ونکي او که وونکي

• هغه فعلونه چې په **(ول)** پای ته ورسیږي ، لکه:کوٗل ، خوښوٗل ، نیوٗل او داسې نور... لهٔ هغوی راوتلي فاعلي نومونه به په دوو واوونو لیکل کېږي. کوٗل=کوٗونکی ، خوښوٗل=خوښوٗونکی، نیوٗل=نیوٗونکی

• هغه فعلوونه چې په **(ل)** پای ته راسیږي ، لکه: ویل ، شنل ، لوستل او داسې نور ...لهٔ دوی څخه راوتلي فعلي نومونه په یؤ واو لیکل کېږي. لکه:ویل=ویونکی، شنل=شنونکی، نیول=نیونکی.

## ف\پ استعمال

کله چې **f** او **p** په پښتو بڼه لیکئ،نو **f** ف او **p** (پ) لیکئ! لکه: Pasto پښتو یا profile پروفایل

## ښه،ښا، ښهٔ، هو،او

• **ښه:** د ښځینه یؤ ګړیو لپاره کاروٗل کېږي. لکه:ګل پاڼه ښه سندرغاړې ده . • **ښا:**احمده! هغوی راغلي وو؟ هو ، ښا څهٔ یې وویل؟ • د **(ښا)** ok مانا ده. • د **(ښهٔ)** good مانا ده. • د **(هو)** yes مانا ده. • د **(او)** and مانا ده.

استاد کریم الله (افغان)

**لیکوال: کریم الله ( افغان )** **اړیکي شماره : 0772213809**

## ځلورمه برخه: زؤرکی

ځلورمه برخه مو زؤرکي(هٔ) ته ځانګړې کړې ده، لکه څرنګه چې پښتو لیکدود کې یېګانې مهمې دي همدا ډول (هٔ او ؤ) خواره مهم دي.لکه ځنګه چې (ځ ، أ ، ئ) پر سر همزه لري همداسې( **هٔ او ؤ**) هم پر سر همزه لري . دا هر توری پر خپل ځای کارول کېږي. د پښتو بشپړ لیکدود بې لهٔ دغوو دوو تورو **(هٔ ، ؤ )** ناشونی دی. زه بې لهٔ تاسو سره ببلګې شریکوم ، په دې هیله چې تاسو وربانديې سم فکر وکړئ تر څو مو قناعت حاصل شي او لیکدود مو سم او بشپړ وي. د **(ه او هٔ )** تر منځ توپیر په وینګ یانې تلفظ کې دی . مورږ پرې د نرینه او ښځینه توپیر کولای شو.

### راځو د زرؤکي(هٔ) کارؤنه

### ښه ، ښهٔ

- **ښه:** د ډېر وخت لپاره د ښځینه مفرد نومونو لپاره استعمالیږي. لکه: ګلالۍ ښه نجلۍ ده. سپوږمۍ په اسمان کې ښه ښکاریده . تا ډېره ښه خبره وکړه. هغه ډېره ښه جینۍ ده .

- **ښهٔ:** د نرینه جمع او مفرد نومونو لپاره استعمالیږي. لکه: زاهد یؤ ښهٔ زده کوونکی دی. غواړم چې نن یؤ ښهٔ غزل ولیکم . ښهٔ سړی د هر چا خوښ وي. دوی ډېر ښهٔ زده کوونکې دي ، ځکه په خپل وخت ټولګي ته راځي.

### <u>ته او تهٔ</u>

- **<u>ته:</u>** تر ډېره د دربیم ګړي یا غایب لپاره کارؤل کېږي، لکه:غواړم ښار ته لاړ شم. دا قلم ګلزار ته ورکړه. هغې ته اویه چې دلته راشي. تا ته مې نهٔ و ویلي چې د بدانو سره مه ګرځه.

- **<u>تهٔ:</u>** تر ډېره د دوهم کس یا مخطاب لپاره کارؤل کېږي، لکه:تهٔ کولای شې چې زدکړه وکړې. کله مې چې تهٔ خوا ته راشي خوشالیږم. تهٔ احمد ته ورغږ کړه . تهٔ په رښتیا چې ساده یې ؛ تهٔ د هغهٔ خبره هم مني ؟

### <u>نه ، نهٔ</u>

- **<u>نه:</u>** لهٔ مه نه لیرې مه ځه. هغه ډېر را نه لیرې دی. نه داسې نهٔ ده ، هغه ډېر ښهٔ سړی دی...

- **<u>نهٔ:</u>** هغه نهٔ غواړي چې لهٔ ما لیرې لاړ شي.زه نهٔ غواړم چې هېواد مې وران شي.احمد نهٔ غواړي چې لاړشي.

### <u>ده ، دهٔ</u>

- **<u>ده:</u>** تر ډېره د ښځینه نومونو اؤ ځیزونو لپاره کارؤل کېږي. لکه: دا کتابچه د هیلۍ ده . دا لونګۍ د سراج ده. هغه ملالۍ ده. هغه د احمد خور ده. دا د احمد حجره ده.

**لیکوال: کریم الله ( افغان )** **اړیکي شماره : 0772213809**

● **دهٔ:** تر ډېره د نارینه لپاره کارؤل کېږي. دا د دهٔ لونګۍ ده. دا قلم دې دهٔ دی. دهٔ ته اویه چې هغه دې ډېر یادؤي. علي ښهٔ انسان دی خو د دهٔ یاني احمد په سر مې بد ایسي.

## هغه، هغهٔ

● **هغه:** هغه یؤ محصل دی. هغه ډېره مهربانه ښځه ده ، هغه انسان پر ما ډېر ګران وي،چې رښتیا ویي.

● **هغهٔ:** هغهٔ ته دا کتاب ورکړه. دا د هغهٔ حق دی. هغهٔ ته اویه چې دهٔ درته سلام کاوه.

## زړه ، زړهٔ

● **زړه:** زرځانګه یؤه زړه ښځه ده. د احمد مور دې خدای(ج) اوبښي ډېره زړه شوي وه، مرګ يې پرده و. نن په زړه کورلا کې سفر لرم .د مدیر صیب لونګۍ ډېره زړه ده.

● **زړهٔ:** زما درېسي زړهٔ خوږیږي. زه درته د خپل زړهٔ خبره ښکه وکړم. احمد ډېر ستر زړهٔ لريٍ .

اردو ژباړه : زما زړهٔ مات دی، که د چا سره اضافي زړهٔ وي نو ما ته دې يې راکړي.(قدرت الله درمان)

## نېکهٔ نیکه ،نیکه

● **نېکهٔ:** ستا نېکهٔ راته وویل:زموږ د ټولو ملي مشر میرویس نیکهٔ دی. د احمد نیکهٔ ډېر زوړ دی!

● **نېکه:**نېکه خبره کول صدقه جاریه ده. احمد ما ته محترم او نېک دی. له نیکه مرغه.

● **نیکه:** د پنسل نیکه تېره کړه تر خو ښه لیکنه وریاندې وکړی شي. دا د قلم نیکه ډېره خرابه ده .

## تخته او تختهٔ

● **تخته:** په بیت کې يې خرګندونه کوو:پیغمبر نهٔ يې،ملایکه نهٔ يې،خدای نهٔ يې \ **تخته** خپل کار دې کاوه، درومه دومره شی نهٔ يې

● **تختهٔ:**زموږ په ټولګي کې ډېره لویه تختهٔ لګؤل شوي ده. زموږ د ټولګي تختهٔ سپین رنګ لري.

## اوس هم د همزه لرونکي واو (ؤ) کارؤنه:

### د (و او ؤ ) ترمنځ توپیر

● **ساده واو (و):** ساده واو (و) هغه وخت کارؤل کیږي چې د مخ توری يې د پېښ اوز ولري. لکه:ډول ، یو ، کارونه ، یادونه ، کوم ...

لیکوال: کریم الله ( افغان ) اړیکي شماره : 0772213809

**همزه لرونکی واو (ؤ) :**همزه لرونکي واو (ؤ) هغه واو دی چې د مخ توری يې د زوُر اوز ولري. لکه:ډؤل ، يؤ ، يادؤنه ، کارؤنه ، کؤم ...

**ډول ،ډؤل**

• **ډول:** احمد د ډول اوز ته د ټينګې نهٔ دی. د ډول غږ مې واوريد ، غوارم چې اتڼ وکړم. زه هر ډؤل ډول ته اتڼ کؤم. • **ډؤل:** علي ډؤل ، ډؤل خوارهٔ خوري ،ځکه داسې چاغ دی. دوبۍ کې مې ډؤل ډؤل موټران وليدل.

**کوم ، کؤم**

• **کوم:** يؤ پوښتنيز نوځری دی: تهٔ د کوم ځای يې؟ تا ته کوم ډؤل خوارهٔ خوند درکوي. کوم کس دې ملګری دی. احمد په کوم کتاب کې کمزوری دی. د افغانستان کوم ولايت پخوا د کافرستان په نامه نومېدهٔ.

• **کؤم:** زهٔ کار کؤم. زه داسې کار کؤم چې د ټولو خوښ شي. که خدای (ج) شتمن کړم نو اول به د ټولنې د غريبو وګړو سره مرسته کؤم.

**يو، يؤ**

• **يو:** موږ ټول افغانان سره ورونه يو. موږ سره ټولګيوال يو. موږ يوءوجود يو . موږ پر افغان ملي پوځونو وياړو او موږ يې په کلکه ملاتړ يو؛ دا خاوره زموږ مور ده ،موږ يې بچي يو.

• **يؤ:** زه ستا يؤ افغان ورور يم .زه ستاسې يؤهٔ يؤهٔ نه مننه کؤم. راځۍ، چې سره يؤ شو ګني ورکېږو. زما په هر يؤ ارمان دې خاورې واړولې. موږ به د هېواد هر يؤ فسادګر لهٔ منځه وړو. موږ ټول افغانان يؤ وجود يو.

**يادونه Yeadon، يادؤنهyadawana**

• **يادونه:** وختونه تېريږي خو يادونه يې پاتې کېږي. اوس دې يادونه افسانې ښکاري. ما ته ستا پخواني يادونه سترګو سترګو ته کېږي. د افغان پخواني ولسمشر يادونه زموږ په زړونو کې خوندي دي.

• **يادؤنه:**زه بايد د دې خبرې يادؤنه وکړم چې په خپلو ليکنو کې د زؤرکي کارؤنه ډېره اړينه ده.زه د دې خبرې بيا يادؤنه کؤم ، کله که موږ ښوونځي ته راځو بايد په خپل لاس کې راشو.

**کارونه، کارؤنه**

• **کارونه:** تهٔ د څهٔ شي کارونه کوې ؟ نن سبا مې کارونه ډېر شوي دي . زموږ کارونه دا دي چې سهار دندې ته ځو ماذيګر اؤ ماښام لږ څهٔ سپورټ کوو.

• **کارؤنه:** که غواړۍ ، چې ښه املاء يا ليکدود ولرۍ نو د زؤرکي کارؤنه وکړۍ. ايا ته په ليکدود کې د ييګانو کارؤنه کوې؟

## خوٌله، خوٌلهٔ

• **خوٌله:** احمد نن ورځ سخت کار وکړ او پر مخ يې نرۍ خوٌله راغله. • **خولهٔ:** احمد د ډېرې لوږې له لامله خوٌلهٔ ښکته نيوٌلې ده.

## لوٌ ګری او لوګری

**لوٌګری:** نوم دی د نرينه اړوند مانا ورکوٌئ. بېلګه: زما سږ کال يو لوٌګری په کار دی، تر څو غنم پرې لوٌ کړم؟

**لوګری:** يو نسبتي نوم دی: بېلګې: احمد لوګری. زما يو ملګری د لوګری دی.

## پنځمه برخه: سفېس يا فاصله

## ماته او ما ته

**ماته:** د ماتېدو په مانا ده: بېلګې: افغانستان په فوټبال کې له هندوستان څخه ماته وخوړه. احمد خپله ژمنه ماته کړه. د بلال له لاسه ښېښه ولويده، ماته شوه. د روهيد ورور پيالهٔ ماته کړه،

**ما ته:** د (ما او ته) تر مېنځ بايد لږه فاصله موجوده وي، ما ته هغه وخت کاروٌل کېږي ، کله چې يو څهٔ په ځان پورې اړوندوٌي. لکه: احمده! قلم دې ما ته راکړه. ما ته ستا خبرو خوند را نهٔ کړ، کتاب دې ما ته راکړه.

## ستايم او ستا يم

**ستايم:** د ستاينې يا صفت په مانا کاروٌل کېږي،لکه:زه احمد ستايم ، ځکه هغه ډېر لايق زده کوٌونکی دی.

**ستا يم:** چې د (ستا او يم) تر منځ فاصله وجود موٌي ، په يو چا پورې ځان اړوندول دي.

## واوره او وا وره

**واوره:** ښايي سږ ژمی پر افغانستان ډېره واوره واورېږي. واوره د خدای(ج)يو لوی نعمت دی.د واورې

**وا وره:** دلته بايد د (وا او وره) ترمنځ فاصله موجود وي. بېلګه: احمده! زما خبره وا وره!

## لوبيا او لو بيا

**لوبيا:** يو ډوٌل خبوبات دی چې د افغانستان د ځمکې څخه لاس ته راځي. زما د لوبيا خوراک ډېر خواښېږي.

**لو بيا:** د (لو او بيا) تر منځ بايد فاصله موجوده وي. د غنمو لو بيا ګډ شو. د بيندېو لو بيا ګډ شو.

## و ، وو، وه، وي \ دی، دي ، دي، ده ، دي







**• و : يؤواو:** يؤ واو په غونډله يا جمله کې هغه وخت کارؤل کيږي ، نوم نارينه يؤګړي(مفرد) وي.

**مثالونه:** احمد تېر ورځ په سخته ساړه هوا کې ښوونځي ته راغلی و. ـ محمود تېره ورځ ښار ته راغلی و.

ـ بلال ښوونځي ته راغلی نهٔ و. ـ جاويد بيګا شپه زموږ کره مېلمه و. ...

**• وو: دوه واوونه:** دوه واوونه په غونډله يا جمله کې هغه وخت کارؤل کيږي ، نومونه نارينه ډېرګړي (جمع) وي.**مثالونه:** احمد اؤ محمود تېره ورځ ښوونځي ته راغلي نهٔ وو. ـ دوی ټول د تېر پنځم په ورځ ښار ته لاړ وو.سلطان او زبيز زموږ کره مېلمانهٔ وو. ـ نن ورځ لس زده کؤوونکي کورس ته راغلي وو.

**• وو: دوه واوونه:** دوه واوونه په غونډله يا جمله کې هغه وخت هم کارؤل کېدای شي چې په غونډله (جمله) کې يؤ نارينه او بل ښځينه نوم موجود وي.

**مثالونه:** ـ نن ورځ ملالی او احمد ښار ته لاړ وو. ـ سيلی او صمد ښوونځي ته راغلي نهٔ وو.

ـ هيلی او الهام يؤ ځای خارج ته په سفر تللي وو. ـ ملالی او اسحاق ښوونځي ته راغلي وو.

**• وه:** هغه وخت په غونډله يا جمله کې کارؤل کيږي ، چې نوم ښځينه يؤ ګړی (مفرد) وي.

**مثالونه:** ـ تېره ورځ ملالی زموږ کره مېلمنه وه. ـ نن ورځ سيلی ښوونځي ته راغلي نهٔ وه.

ليکوال: کريم الله ( افغان ) اړيکي شماره : 0772213809

ـ د لس ورځې مسلسل زرلښته غيرې حاضره وه. ـ موسکا تېرکال د ښوونځي عمومي اول نمره وه.

**• وې: وې په غونډله يا جمله کې هغه وخت کارول کېږي چې نومونه ښځينه ډېرګړي (جمع) وي.**

**مثالونه:**

ـ تېره ورځ ملالۍ او ګلالۍ ښوونځي ته راغلي وې. ـ بيګا شپه سيلۍ اؤ ملالۍ زموږ مېلماني وې.

ـ زلښته اؤ شفيقه ښار ته لاړې وې. ـ ګلځانګه او مستوره د ښوونځي بريالۍ زده کؤونکې وې.

**• دی : په غونډله يا جمله کې هغه کارول کېږي ، چې نوم نارينه يؤګړی (مفرد) وي.**

**مثالونه:**

جهاد زما تر ټولو ښهٔ ملګری دی.هغه پورې سړی زموږ انډيوال دی. ښهٔ ملګری کتاب دی.

**• دي: په غونډله يا جمله کې هغه کارول کېږي ، چې نوم نارينه ډېرګړي (جمع) وي.**

**مثالونه:**

احمد او محمود دواړه ښوونځي ته راغلي دي. دوی ټول ښار ته راغلي دي. بلال اؤ ګوهر زما ګاونډيان دی. زاهيد اؤ هلال زما ملګري دي.

**• دي: په غونډله يا جمله کې د نارينه اؤ ښځينه ډېرګړي (جمع) لپاره استعمالېږي. مثالونه:**

ـ زبير اؤ ملالۍ زموږ کره راغلي دي. شعيب اؤ سپوږمۍ زما ملګري دي. سيلاب اؤ هيلۍ ښار ته تللي دي.
ـ روهيد اؤ پلوشه زموږ ګاونډيان دي.

**• ده: په غونډله يا جمله کې هغه کارول کېږي ، چې نوم ښځينه يؤګړی(مفرد) وي.**

مثالونه:دا کتابچهٔ د چا ده ؟هغه ډېره ښه ښځه ده.توربيکۍ د ملالۍ خور ده. سيلۍ زموږ ګاونډۍ ده.

**•دي: په غونډله يا جمله کې هغه کارول کېږي ، چې نوم ښځينه ډېرګړي (جمع) وي.**

**مثالونه:**

ښار ته ټولې ښځې راغلي دي.ملالۍ اؤ هيلۍ زموږ کور ته راغلي دي. دوی د ملالۍ ملګرې دي. زاهيده او شفيقه زموږ ګاونډۍ دي.

# ابتکار ښوونيز مرکز د نؤيو نوښتونوسره.

د املاء اؤ ليکدود د مهمو برخو څخه لاندې اړينه برخه هم په خپله املاء کې وکاروئ.

| نارينه يؤ ګړی | نارينه ډېرګړي | ښځينه يؤ ګړې | ښځينه ډېر ګړې | ناسمه بڼه | سمه بڼه |
|---|---|---|---|---|---|
| وکړ | وکړل | وکړه | وکړې | ندی ، ندي ، نده | نۀ دی، نۀ دي ، نۀ ده |
| وخوړ | وخوړل | وخوړه | وخوړې | نکؤم ، نځم | نۀ کؤم ، نۀ ځم |
| ونيوۀ | ونيول | ونيوله | ونيولې | نلرم، نلري ، سمه ده | نۀ لرم ، نۀ لري، سمه ده |
| وښود | وښودل | وښوده | وښودې | نشم، نشي، نشئ | نۀ شم، نۀ شي، نۀ شئ |
| وواهه | ووهل | ووهله | ووهلې | نده، ندي، ندی | نۀ ده، نۀ دي، نۀ دی |
| وليد | وليدل | وليدله | وليدل | مکوه، مکوئ، مځّه | مه کوه، مه کؤئ، مه ځه |
| وليږۀ | وليږل | وليږله | وليږلې | مخوره، مخورئ | مه خوره، مه خورئ |
| وکوت | وکتل | وکته | وکتلې | پدي،لدي | په دي، لۀ دي |
| ومانۀ | ومنل | ومنله | ومنلې | مکوه، مکوئ، | مه کوه، مه کؤئ |
| واخيست | واخيستل | واخيسته | واخيستې | نکؤي ، نخورم | نۀ خورم، نۀ کؤي |
| ملګری | ملګري | ملګرې | ملګرې | نشته | نۀ شته |
| ملګرې | دي | ده | دي | سمده | سمه ده |
| و | وو | وه | وې | ډير | ډېر |
| ګړی و | ګړي وو | ګړې وه | ګړې وې | هير | هېر |
| وهلی و | وهلي وو | وهلې وه | وهلې وې | خيره | خېره |
| ليدلی و | ليدلي وو | ليدلې وه | ليدلې وې | نيت | نېت |
| بللی و | بللي وو | بللې وه | بللې وې | نلرو | نۀ لرو |

ليکوال: کريم الله ( افغان )
اړيکي شماره : 0772213809

## و: واو په پښتو ژبه کې په څلور ډوله دی:

- **ږغواک واو:** هغه واو دی ،چې د مخ توری پې زور ولري. لکه: پلو ، لو ، قلم رو ، چلو ...

- **لنډ واو:** هغه واو دی ، چې د مخ توری پې څرګند او دروند پېښ ولري. لکه:کچالو ، الو ، کندو ، چاکو ، تالو ، شفتالو ، سالو ... • **اوږد واو:**هغه واو دی چې اوږد او نرم ویل کیږي، او د مخ توری پې اوږد پېښ ولري. لکه:پښتو ، زانګو ، پیشو ، اور ، کور ، مور ، خور ، ترور ... • **کوچنی واو:** هغه واو دی ، چې د مخ توری پې سپک او لنډ پېښ ولري. لکه: لومړی، تاسو ، اوشو ،شو ، خو ...

## په پښتو ژبه کې الف څلور ډوله حرکتونه لري:

- **د زوَر حرکات :** لکه :ارمان ، افغان ، اسمان ، امان ، اختر ، افریقا او نور ... • **د زیر حرکات:** لکه:احترام ، اسلام ، الهام ، انسان ، انعام او نور ... • **د پېښ حرکات :** لکه: الفت ، امت ، استاد ، اوبهٔ ، اور ، اوبښ ، اوږی ، او نور ... • **ساده\ساکن حرکات:** په دي مانا چې الف په خپله زوَر دوه چنده لهٔ دهٔ مخکې توري ته ورکؤل کیږي ، دا دالف ساکن حرکت هغه حرکت دی چې د کلمې په منځ او وروستیو کې استعمال شوی وي. لکه: کلا ، لوبیا ، لیبیا ، ملا ، بریښنا ، ماما ، کاکا ، دادا ، تیار، تالار او نور ...

## په پښتو ژبه کې ویی (لغت) په څلور ډوله دی:

- **همجولیز وییونه:**هغه وییونه یا لغاتونه دي چې،شکل او وینګ یا تلفظ پې یؤ شان وي، خو ماناوې پې سره بېلې وي. لکه:لور ( دربېلو اله) او لور (طرف)

- **هملیکي وییونه:** هغه وییونه یا لغاتونه دي چې، لیکنی بڼه پې یؤه وي خو په وینګ او مانا کې سره توپیر لري. لکه:لور(ښځینه اولاد) او لور (پیرزوینه) یا : کارونه(د کار جمع) کارونه (د کارولو نومیزه بڼه)

- **هممامیزي وییونه:**هغه وییونه یا لغاتونه دي چې شکل او وینګ پې سره یؤ نهٔ وي،خو مانا پې یؤ شان او ورته وي. لکه: (تیږه ، ډبره ، کاڼی ) یا (وطن ، هېواد ، ټاټوبی ، ویجه.)

- **بډمانیزي وییونه:**هغه وییونه دي چې، شکل او وینګ یا تلفظ پې سره یؤ نهٔ وي، خو ماناوې پې سره بډوالی(مخامخوالی)ولري. لکه: ښهٔ او بد، سوړ او تود ، شپه او ورځ ...

# ابتکار ښوونیز مرکز د نوُیو نوښتونوسره.

| انګلیسي | کره پښتو | ګڼه | انګلیسي | کره پښتو | ګڼه |
|---|---|---|---|---|---|
| WORDS | وییونه | 35 | WORD | ویی | 1 |
| PLURAL | ډېرګړي | 36 | MALE | نرینه | 2 |
| NUMBER | شمېر | 37 | FAMALE | ښځینه | 3 |
| GRAMAR | ژبدود\پښویه | 38 | SINGULAR | یوګړی | 4 |
| PHONOLOGE | غږپوهنه | 39 | GENDER | نوږی | 5 |
| NOUN | نوم | 40 | SENTENCE | غونډله | 6 |
| SUBJECT | کړند | 41 | ORTHGRAPHY | لیکدود | 7 |
| PRONOUN | نومځری | 42 | ADJECTIVE | ستاینوم | 8 |
| SCHOOL | ښوونځی | 43 | ADVERB | کړول | 9 |
| TEACHER | ښوونکي | 44 | TEACHER | ښوونکی | 10 |
| STUDENT | زدکړیال | 45 | PUPIL | زده کوونکی | 11 |
| CLASS MATE | ټولګیوال | 46 | CLASS | ټولګی | 12 |
| Followers | څارونکي | 47 | Like | خوښول | 13 |
| List | نوملړ | 48 | Comment | څرګندونه | 14 |
| انځور | انځور | 49 | Password | پټنوم | 15 |
| Edit | سمون | 50 | Share | ګډوُل \ شریکوُل | 16 |
| AUDIO | غږیز | 51 | Tag | په نښه کول | 17 |
| Page | پاڼه | 52 | BUTTON | تڼۍ | 18 |
| Paste | تپل | 53 | Copy | لمېسل | 19 |
| Accept | منل | 54 | CANCEL | ړنګوُل | 20 |
| Send | لیږل | 55 | CONNECT | پیوستول | 21 |
| Upload | خپرول | 56 | DELETE | ړنګول | 22 |
| Unfriend | ناملګری کول | 57 | EMAI | برېښنالیک | 23 |
| Download | راښکته کول | 58 | Group | ډلګۍ | 24 |
| Live | ژوندی | 59 | Friendship request | د ملګرتیا | 25 |
| Join | ګډون کول | 60 | Mobile | ګرځنده | 26 |
| Key board | لیکمن | 61 | Missed call | نیمه ټالۍ | 27 |
| Email | بریښنالیک | 62 | message Vice | غږیز پیغام | 28 |
| Key button | تڼۍ | 63 | Vice call | ټالۍ | 29 |
| Photo | انځور | 64 | Missed call | نیمه ټالۍ | 30 |
| Media | رسنۍ | 65 | message Vice | غږیز پیغام | 31 |
| Print Media | چاپي رسنۍ | 66 | Electric Media | بریښنایي رسنۍ | 32 |
| S m s | لنډ لیکلی پیغام | 67 | Social Media | ټولنیزه رسنۍ | 33 |
| Upload | پورته کول | 68 | Package | کڅوړه | 34 |

لیکوال: کریم الله ( افغان )
اړیکي شماره : 0772213809

| علمي رتبې | | | |
|---|---|---|---|
| NO | پښتو | د زده کړو کچه | مانا |
| 1 | ابتداییه زده کړې | 6 | د اول ټولګي څخه تر شپږم ټولګي پورې |
| 2 | منځنۍ زده کړې | 9 | د شپږم څخه تر نهم ټولګي پورې |
| 3 | دوه لس کلانې زده کړې | 12 | د نهم ټولګي څخه تر دوولسم ټولګي پورې |
| 4 | لیسانس تر کچې زده کړې | 16 | د دوولسم ټولګي څخه تر شپږسم ټولګي پورې |
| 5 | د ماسټرۍ تر کچې زده کړې | 18 | د شپږسم ټولګي څخه تر اتلسم پورې |
| 6 | د دوکتوره تر کچې زده کړې | 20 | د اتلسم ټولګي څخه تر شلم پورې |
| 7 | پوهیالی | 22 | د پوهنتون د استاذۍ اوله رتبه |
| 8 | پوهنیار | 24 | د پوهنتون د استاذۍ دوهمه علمي رتبه |
| 9 | پوهنمل | 26 | د پوهنتون د استاذۍ منځنۍ علمي رتبه |
| 10 | پوهندوی | 28 | د پوهنتون د استاذۍ څلورمه علمي رتبه |
| 11 | پوهنوال | 30 | د پوهنتون د استاذۍ پنځمه علمي رتبه |
| 12 | پوهاند | 32 | د پوهنتون د استاذۍ تر ټولو لوړه رتبه .(پروفیسور) |

| د اوونۍ نومونه په پښتو، دری او انګلیسي ژبه | | | |
|---|---|---|---|
| no | پښتو | دری | English |
| 1 | خالي | شنبه | Saturday |
| 2 | یؤونۍ | یک شنبه | Sunday |
| 3 | دوه نۍ | دووشنبه | Monday |
| 4 | دریڼۍ | سه شنبه | Tuesday |
| 5 | څلورنۍ | چهارشنبه | Wednesday |
| 6 | پنځنۍ | پنجشمبه | Thursday |
| 7 | جمعه | جمعه | Friday |

لیکوال: کریم الله ( افغان )
اړیکي شماره : 0772213809

| د میاشتو نومونه په پښتو، دری ، عربي ، اسلامي او انګلیسي | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| No | پښتو | دری | عربي | اسلامي | English |
| 1 | وری | حمل | محرم | رومبی خور | January |
| 2 | غویي | ثور | صفره | دوهمه خور | February |
| 3 | غبرګولی | جوزا | ربیع الاول | دریيمه خور | March |
| 4 | چنګاښ | سرطان | ربیع الثاني | وروستی خور | April |
| 5 | زمری | اسد | جمادي الاولی | زبرګه | May |
| 6 | وږی | سنبله | جمادی الثاني | شوقدر | June |
| 7 | تله | میزان | رجب | روژه | July |
| 8 | لړم | عقرب | شعبان | وړوکی اختر | August |
| 9 | لیندی | قوس | رمضان | خالي میاشت | September |
| 10 | مرغومی | جدي | شوال | لوی اختر | October |
| 11 | سلواغه | دلوا | ذولقعده | اسان | Number |
| 12 | کب | حوت | ذوالحجه | سفره | December |

| د ځیرکیو یا فصلونو د نومونه | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| No | پښتو | دری | د فصلونو میاشتي | | | |
| 1 | پسرلی | بهار | د پسرلي یا بهارمیاشتي | وری | غويي | غبرګولی |
| 2 | اوړی | تابستان | د اوړي یا تابستان میاشتي | غبرګولی | زمری | وږی |
| 3 | منی | خزان | د مني یا خزان میاشتي | تله | لړم | لیندی |
| 4 | ژمی | زمستان | د ژمي یا زمستان میاشتي | مرغومی | سلواغه | کب |

یادؤنه :اوړي ته په پښتو کې دوبی هم وایي

| No | لومړۍ بڼه | دویمه بڼه | no | اوړده بڼه | لنډه بڼه |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | پوه کؤل | پوهول | ۶ | زه مړ کیږم | زه مرم |
| ۲ | زه پوه نهٔ شوم | زه و نهٔ پوهیدم | ۷ | هغه به مړ شي | هغه به ومري |
| ۳ | پوه مې کړه | و مې پوهوه | ۸ | ډېر خلک مړهٔ شول | ډېر خلک ومړل |
| ۴ | هغه ځان نهٔ پوه کاؤهٔ | هغهٔ ځان نهٔ پوهاوهٔ | ۹ | هغه مړ شو | هغه ومړ |
| ۵ | ایا زه لهٔ تا پوښتنه کؤلای شم؟ | ایا زهٔ لهٔ تا څهٔ پوښتلای شم؟ | ۱۰ | زه لهٔ تا څخه پوښتنه کؤل غواړم | زه لهٔ تا څه پوښتل غواړم |

لیکوال: کریم الله ( افغان )
اړیکي شماره : 0772213809

| No | نا پښتو | پښتو | No | نا پښتو | پښتو |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | حتمآ | هرو مرو \ خامخا | ۸ | ماشاالله | ماشاءالله |
| ۲ | فعلآ | اوسمهال | ۹ | متاسفانه | له بده مرغه |
| ۳ | عمومآ | په ټوليز ډول \ په ټوله کې | ۱۰ | تقريبآ | څۀ نه څۀ \نږدې \ کابو |
| ۴ | مثلآ | د بېلګې په توګه \لکه | ۱۱ | کاملآ | په بشپړ ډول |
| ۵ | قصدآ | په لوی لاس | ۱۲ | رسمآ | په رسمي ډول |
| ۶ | واقعيآ | په ربښتيا هم | ۱۳ | قبلآ | لۀ مخکې\د پخوا نه |
| ۷ | خصوصآ | په ځانګړي توګه \ پټېره بيا | ۱۴ | مثلآ | د بېلګې په توګه\لکه |

| نرينه يوګړی | نرينه ډېرګړی | ښځينه يوګړی | ښځينه ډېرګړی |
|---|---|---|---|
| وکړ | وکړل | وکړه | وکړې |
| وخوړ | وخوړل | وخوړه | وخوړې |
| ونيوه | ونيول | ونيوله | ونيولې |
| وښود | وښودل | وښوده | وښودې |
| وواهه | ووهل | ووهله | ووهلې |
| وليد | وليدل | وليدله | وليدلې |
| ورکړ | ورکړل | ورکړه | ورکړې |
| وليږه | وليږل | وليږله | وليږلې |
| وکوت | وکتل | وکته | وکتې |
| ومانه | ومنل | ومنله | ومنلې |
| وباله | وبلل | وبلله | وبللې |
| واخيست | واخيستل | واخيسته | واخيستې |

| نرينه يو | نرينه ډېر | ښځينه يو | ښځينه ډېر |
|---|---|---|---|
| زوړ | زاړه | زړه | زړې |
| ووړ | واړه | وړې | وړې |
| لوند | لانده | لنده | لندې |
| کوږ | کاږه | کږه | کږې |
| موړ | ماړه | مړه | مړې |
| سوړ | ساړه | سړه | سړې |
| روڼ | راڼه | رڼه | رڼې |
| ړوند | ړانده | ړنده | ړندې |

**په پښتو ژبه کې کوم وخت نوموونه جمع کېږي. لاندې يې زدکړئ!**

**په زور پايېدلي نومونه په ې جمع کيږي**

يوه منه - دېرې منې
يوه شېبه - يوه شېبې
يوه ونه - دېرې ونې

**په لنډ و پايېدلي نومونه په ګان جمع کيږي**

لنډ و = u

لېږو - لېږوګان
الو - الوګان
ټاپو - ټاپوګان
کدو - کدوګان
(کدوان)

**په الف پايېدلي نومونه په 'وې' جمع کيږي**

يوه مانا - دېرې ماناوې
يوه دعا - دېرې دعاوې
يوه رڼا - دېرې رڼاوې

که په الف پايېدلي د خپلويو يا رشتو نومونه وي، نو په "ګان" جمع کيږي لکه ماما، کاکا، لالا

**په اوږد و پايېدلي نومونه په ګانې جمع کيږي**

اوږد و = o

يوه بيزو - دېرې بيزوګانې
يوه سکالو - دېرې سکالوګانې
يوه ښارو - دېرې ښاروګانې
يوه زانګو - دېرې زانګوګانې

**په ي پايېدلي نومونه په ۍ جمع کيږي**

يوه خوشالي - دېرې خوشالۍ
يوه ناروغي - دېرې ناروغۍ
يوه خواشيني - دېرې خواشينۍ

**په ې پايېدلي ښځينه نومونه ې جمع کيږي**

يوه زده کوونکې - دېرې زده کوونکې
يوه ښوونکې - دېرې ښوونکې

ليکوال: کريم الله ( افغان )
اړيکي شماره : 0772213809

## په نرمه ی پایېدلي نومونه په ي جمع کیږي

یو سړی - ډېر سړي،
یو منګی - ډېر منګي
یو لاروی - ډېر لاروي

استثنا:
پلوی - پلویان
ویی - وییونه

د ناژوندیو /ناساکښو شیانو نومونه چې په یو ښواک غږ پایېدلي وي، نو جمع یې په ونه پای مومي (اکثر)

قلم - قلمونه
کور- کورونه
توپ - توپونه

د ژوندیو یا ساکښو شیانو نومونه چې په یو ښواک غږ پایېدلي وي، نو جمع یې په ان پای مومي (اکثر)

هلک - هلکان
لیکوال - لیکوالان
ځوان - ځوانان
ګل - ګلان

ښواک غږونه ټول غږونه دي له ا/زور/ې/ي/و پرته.

## په ی پایېدلي نومونه په ۍ جمع کیږي

یوه ځولۍ - ډېرې ځولۍ
یوه نړۍ - ډېرې نړۍ
یوه خوبانۍ - ډېرې خوبانۍ

استثنا: نجلۍ - نجونې

نوټ

پورته لیکل شوی کتاب د ( لیکدود) تر نامهٔ لاندې په پوره ښهٔ اؤ معیاري ډؤل د استاد کریم الله (افغان) لهٔ خوا بر ابر شوی دی، هیله ده د ټولو ذکر شویو برخو څخه یې د لیکدود په کارؤنه کې سالمه ګټه واخلئ.

درنښت

د ابتکار ښوونیز مرکز اداره(                              )

لیکوال: کریم الله ( افغان )        اړیکي شماره : 0772213809